

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# هغه چاته ډالۍ چې دمینې خوښونکی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ليکوال:سيدادريس"سادات"

دکتاب نوم :دننګرهار مينه

https://chat.whatsapp.com/KlJh9VJeH9w958UeS7yfSK

دداسې خکلو ناولونو لپاره دسادات کتابتون سره ځانونه جوين کړئ.

څه مشکل يا پيشنهاد وی په لاندی شمارو واتساپ لرم.

0731363201

دليکوال اثار .

رنځور خامار دسپين غر زخمی مرغۍ دبهلول نصيحتونه دتورخم لاراوواده

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ناول دډیرو ورونو هیله وه چی درته یی نشر کړم .

ځکه می په پی ایف بڼه راوړ .

دننګرهار مینه ناول یو داسی ناول دی چی .

ډیر ورونه یی دسینمایی فلمونو او فضول وخت تیرولو نه خلاص کړی دی .

دننګرهار مینه داول په فیسبوک په برخو نشریده نو هره شپه ورته مینوال اتو بجو وخت کی ډیر په بی صبرۍ په تمه وو .

نور مو نو وخت نه ضایع کوم رابلم مو

خوندور ناول ته ویی لولۍ او خوند ورنه واخلۍ مننه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

!ټک ټک شو په ویره له خوب څخه راپاسیدم
.مولوی صاحب خپله غړانګه تازه کړه
. په الله اکبر یی دسهار آذان پیل کړ
زه که څه هم کوچنی وم خو لمونځ می نوی نوی زده کړی
.وو ,پاسیدم دکور اخری منزل ته راکیوتم
. ګورم چی مور پلار می راپاسیدلی وه
!ما هم داوداسه په نیت خپلی مټی رابډ وهلی
اودس می دژمي په داسی اوبو وکړ چی ټوله شپه پری
.تیره شوی وه
پلار می راپسی داوداسه په منځ کی ناره کړه هلکه زر
. راوزه چی دجمی ټایم دی
ما زرزر اودس وکړ خپله جالۍ خولی می په سر کړه
.دسهار شفق هری خواته خور شوی وو
!دسهار خړه وه هیڅوک هم پکی سم نه معلومیدل
ما اوپلار می په ګډه ځان تر جماعته ورساوه او خپل څلور
.رکعتي دسهار لمونځ مو ادا کړ
پلار می راڅخه ولاړ ,اوزه دقاری صاحب سره کښیناستم
!تر څو خپل نوی سبق زده کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما عمر ډیر کم وو خو استعداد بیا خدای دپوخ سړي
،راکړی وو
پخپل خه او بد دهرچانه خه پوهیدم ِدامهال می قرانکریم
.پوره شل سپاری په یادو زده کړی وو
اونور هم لګیا وم پلار به راته ویل چی خواری وکړه بچیه
که په دی کار کی دقرانکریم ختم کړ نو انشاالله یو خایسته
"سایکل درته اخلم
زما تر ټولو نه لوی ارمان داو چی زه هم یو سایکل ولرم
.او لکه دسمیع زه هم په سایکل هر ځای ته پخپله ولاړ شم
، که څه هم زما پلار دسمیع دپلار نه مالداره وو
خو زما پلار خپل ټول کارونه خپل اوخی ته سپارلی وو
.چی زما ماما کیده
. زما ماما دسمیع پلار وو او زما پلار بیا دسمیع ماما وو
زما پلار او دسمیع پلار دواړه کلک ملګری وو او دوی
.بدل کړی وو
دسمیع پلار زما پلار ته خپله خور ورکړی وه او زما پلار
. دسمیع پلار ته خپله خور ورکړی وه
.نو ځکه ددوی ددوستئ ریشته هم خه پښه وه
ولی چی دواړه دیوبل اوښی وو او دورونو نه یی هم په یو

(c) ketabton.com: The Digital Library

،بل زيات باور کاوه
زما پلار په افغانستان کی دماین پاکۍ په موسسه کی کار
. کاوه
هغه وخت دماین پاکۍ په موسسه کی ډيری غټی تنخوا
ګانی به وی دخلکو هر څوک چی به په افغانستان کی
دماین پاکۍ په موسسه کی وو په کیمپ کی به ورته خلکو
. ډير درناوی کاوه
زما پلار هم همداسی اصلا کار به زما پلار کاوه خو جیب
،به ورسره دسمیع دپلار ډک وو
زما پلار نه پوهيږم چی کنجوسی یی کوله یا څه خو خپلو
بچو ته به یی یو سایکل یا نور دماشومانو دلوبو سامان نه
. رانیول
هغه خلک ریشتیا وایی چی خپله ګټه پخپله وخوره که
،ودی نه خوړله بیابه یی درنه شیطان وخوري
زه دانه وایم چی زما پلار ذاتاٍ کنجوس وو خو دا د ټولو
انسانانو خواص دي چی پیسی پیداکړي بیا فکر کوي
.چیرته په بی ځایه لارو ورنه مصرف نشي
هغی ته بیا سمه اوناسمه نه معلوميږی نو ځکه یی
. کنجوسی ته مخه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

، او خدای یی ترینه په بله لار وباسي
. ما ډیر لګ وخت کی قران په یادو ختم کړ
قاری صاحب راته دافرینی په پار یو چاکلیټ راکړ چوټی
، شوم
.کور ته راغلم قرانکریم می تاخچه کی کیښود
.نور ووتم او سمیع ته می ږغ وکړ
هغه هم راووتو بی پروا په ختو کی کښیناستو دغرمی تر
دری بجو پوری مو دختو نه وسایل جوړول هر چا چی به
، یو څیز جوړ کړ نو موږ دا ډیر دافتخار ځای باله
دغرمی دری بجی وی پلار می دکور څخه راووت دختو
څخه یی پورته کړم خپل کور ته یی بوتلم سمیع هم خپل
،کور ته ولاړ
پلار می مور ته وویل چی عادل پاک کړه پاکی جامی
. ورواغونده او ویی لمبوه زما یو څو ملګری رازی
زه بیا ځم هغوی سره خپلی وظیفی ته ما لکه دنازولي
ماشوم په شان پلار ته غاړه ورکړه ومی ژړل په وړه ژبه
می ورته وویل ته به نه زی لالا افغانستان ډیر خراب ځای
دی موږ ته جومات کی مولوی صاحب ویلی افغانستان کی
. کافران ګرځی باید دهغوی سره جهاد وکړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ای لالا ته هم باید دهغوی سرو کافرانو سره جهاد وکړی
. زه یی هم کووم
پلار می یوه کلکه سپیږه په دی مخ ووهلم بیایی زما مور
. ته وویل چی عادل نور دی جماعت ته ونه لیګی
، یو څه وخت وروسته می دپلار ملګري راغلل
زه هم ورسره کښیناستم واقعا چی ډیره مینه یی راکړه
ماتر اوسه په مدرسه کی دمینی په باره کی یوه خبره هم نه
وه اوریدلی بس جهاد او اسلامی جذبه چی زما ملګرو به
ډیر په جوش کی مولوی چاحب ته ویل چی مولوی چاحب
موږ درسره یو ماته به صرف دی جذبی خوند راکاوه او
بل انسان جوړ همداسی دی چی ملګری او مشران یی هر
. څه وغواړي دی هم دهماغی تابع ګرځي
زما پلار او ورسره ملګري یی لاړل افغانستان ته خدای
خبر چی څومره سختۍ به پری تیریدی خو چاته یی دتپلو
، سختیو فریاد نکاوه
موږ فکر کاوه چی زما پلار دمفتو ډالر اخلي خو داواقعا
.چی سخته دنده وه
زما پلار به صرف خبری دخپل اوښي سره کولی یعنی
زما دمور ورور او زما ماما سره کله ناکله به موږ هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

دسمیع دوی کورته تللو او دخپل پلار حال احوال به مو
. اخیست
،خو یوه ورځ می دماما رویه بدله شوه
ما او سمیع لوبی کولی سمیع یی کور ته بوتللو زه یی په
. کلکه سپیږه ووهلم
ویی ویل لوچکه انسانه که زما دزوی سره نور چیرته
ناست وی یا دی ورسره لوبی کړی وی بیا به درته خه نه
. وي
زما ددردناکو سترګو څخه دوه دری ملغلری وڅڅیدی بیا
لاړم دمور غیږ کی می پریوتم ورته ومی ویل :موری ایا
زه لوچک یم ما څه بد کار کړی دی او دالوچک څه رقم
. انسان وي
مور می وویل نه بچیه خدای دی نکړی چی ته لوچک
.واوسیږی ولی څه شوي دی بچی
ما ورته وویل:موری ماما ماته وویل چی لوچکه زما
.دزوی سره نور لوبی ونکړی کنه بیابه درته خه نه وي
مور می سم دواره بورقه په سر کړه ورغله دخپل ورور
کره خو ماما می مور ته هم سپکی سپوری وویل :زه په
اصلی موضوع تر اخره خبر نه وم خو بیا وروسته می

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلار راته ټوله کیسه داسی وکړه :بچیه زما لس زره دانی په پاکستان کی دموچیو بکسونه وو شات به یی کول او اسلام اباد او پنډی کی می ځمکی وی همداسی پیښور پندو چوک کی مو هم لوی کور وو .
خو ماسره دپاکستان اشناختی کارډ نه وو زموږ په ژبه ورته تذکره وایی پلار می وویل داهر څه ما دخپل اوښی په شناختی کارډ اخیستی وو ما پرده دخپل ورور نه هم زیات باور کړی و.
زما بل داسی څوک نه وو چی ماته یی داکار کړی وی ما خالی باور په خپل اوښی وکړ .
خو هغی ناځوانه راسره ناځوانی وکړله او دپیښور ټول کاروبار هره ځمکه هر څه یی په خپل نوم کړل .
بیا یی راباندی دلسو لکو دعوه هم وکړله چی قرضداره می یی .
زما ماما داهر څه وکړل په سبا یی سمیع راته دلاس لس واړه ګوتی یی ونیوی ویی ویل ستا پلار زما دپلار نه دومره روپۍ قرضدار دی او موږ سبا ځو پخیر اسلام اباد ته او باقی عمر به هلته تیروو ما ته پخپل زړه کی دخپل پلار معصومیت ودرید بیا می فکر وکړ چی زما پلار به

(c) ketabton.com: The Digital Library

. ولی دچا نه دومره قرض اخلی
. خو اصلی خبره بل څه وه
په سبا یی سمیع دوی کډه وتړله او ما همغه وخت کی
. دخپل بچپند یار اخری ځل وکوت
. بیامی تر اوسه نه دی لیدلی
دهمدی ورځی په سبا می پلار په کیمپ کی یو کس ته
زنګ وهلی وو چی موږ خبر کړی چی پلار می راروان
دی ما په شته پلار کی دیتیمۍ شپی سبا کولی اوف ډیره
. سخته ده
چی پلار دی په بل وطن کی متینونو سره لوبی کوی او
. نادان ځوی یی په خپل کلی کی دمینی انتظار کوي
خو دخدای تعالی رحم وو سبا دعبدالرحمن کاکاسره چی
.زما کاکا وو خو زمانه څلور کاله مشر وو
دهمغی سره دپلار دراتګ انتظار ته په جمیل چوک کی
سره دکاکا ودریدو ډیر انتظار مو وباسلو زما په حساب
ددی وخت یو یوه ثانیه رابندی لکه کال تیریده ولی چی
دپلار راتګ ته انتظار بیل خوند هم لری او دسړی زړه یو
. ډول تخنوی
، موږ پوره دوه ساعته پلار ته په زمع شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

داوخت دلری ځای نه یو سور فلنکوچ ښکاره شو داسی ډیر پلنکوچونه تیر شوی ول موږ فکر نه کاوه چی لالا به په همدی فلنکوچ کی وی .

خو لالا په همدی فلنکوچ کی وو چی راکیوت ماته یی کلکه غاړه راکړه وچت یی کړم په غیږه کی یی تر بل موټره ورسولم زما کاکا ورسره بیکونه راواخیستل هغه هم ورته ډیر خوشحال سو .

پلار می یو زوړبس وکوت هغی ته یی وروخیجولو دا وخت نه هم زه په دی پوهیدم چی زما پلار دټول کیمپ مالداره سړی دی او نه هم په دی پوهیدم چی پلار می ماما لوټلی دی که زه خبر وای نو نه به می ماما پریښی وای او نه به هم دخپل پلار سره په دی زوړ بس کی تللی وای ځکه چی پلاره تاته چی خدای داهر درکړی نو ولی پخپل ځوی او ځان باندی سخته تیروی حال داچی خلک درنه پیسی وهی او هغوی یی خپل ځان باندی مصرفوی اوته په کال کی یو ځل کور ته راځی هغه هم په زوړ بس کی خو دابس ماته د ډیرو هغسی خو موټرو نه خه وو چی زه پکی وس تللی یم ځکه چی دپلار پیسی او دپلار مینه دادهر څه نه لوړه ده اودابس زما پلار نیولی وو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما چی دخپل پلار په لیدو په جمیل چوک کی کومه
خوشحالی کوله هغسی خوشحالی ولاکه وس د پاچا په لیدو
کی وی ،
. واقعا چی پلار پلار وي
زه دخپل پلار سره په مجلس کی ګرم راغلی وم ټول
حالاتو جریان می ورته تیرولو داو چی زموږ دکور کوسه
راورسیدله موږ ترینه کیوتو او خپل کور ته ولاړو مور
می پلار ته کلکه غیږه ورکړه مور ته می ددرد لامله ژړا
ورتله خو زما مخکی یی ورته هیڅ هم نه ویل ماته یی
ویل چی عادله بچی ته لاړ شه کاکا نه دی بیک راوخله
ورسره یی راننباسه زه ووتم کاکا می هم کور ته راننوت
کاکا می زما دنیا سره اوسیدو دهغی پالنه به یی کوله زما
پلار دهغوی دهرڅه خرس په غاړه اخیستی وو هغوی ته
به یی هر څه وکور ته وروړل خو دا چی ولی یو ځای نه
وسیدلو ددی یو لامل وو هغه دا چی زما کاکا دپلار سره
می یی هیڅ جوړه نه وه اوبل کاکا می نوی نوی ځوان
شوی وو نو هر ډول خبره به یی زما پلار ته کوله خو بیا
کاکا می پخپله خوخه ځان سره یی زما نیا واخیستله او بیل
کور کی وسیدل
داچی کله به موږ یوازی و ماما دوی دکور نه به می زنانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

راتلل خو چی کله هغوی لاړل بیا به می زړه نیا سره
دخپل زویه راتلل خو کاکا می هیڅکله هم دانهمنله چی
دلته دی ووسیږی دهغی به په دی کی کوم هدف وو خو
موږ نه پوهیږو چی سه خبره وه او نهپوس پری پو هیدلی
یو
موږ یو څه وخت پیښور کیم کی پاتی شو خو نور می
دپلار زړه راتنګ شو ویل چی دا پیښور راپوری سپیره
. لاړو بچیه موږ باید لاړ شو پخیر افغانستان ته
زه ډیر خوشحاله سوم ما ویل چی موږ به افغانستان ته لاړ
شو او یو انسان به هم زه ژوندی پرینږدم په افغانستان کی
ولی چی موږ ته مولوی صاحب ویلی وو چی دافغانستان
. ټول خلک کافران دی
پلار می کډه برابره کړه هر څه یی وتړل دکرزي پاچاهی
وه چی زه افغانستان ته روان شوم مور می هم راسره وه
او پلارهم نیا او کاکا می نه غوښتل چی افغانستان ته ولاړ
شی ځکه چی هغوی همدلته خوشحاله وو ولی چی ټول
.خپلوان ورسره وو
موږ افغانستان ته روان وو په لاره کی ډیر نوی نوی څه
واوریدل اونوی می څه وخوړل په کارخانو کی می پلار

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځان لپاره یوه دچایو پایله راونیوله ویل یی خدای خبر که
بیا دی سپیری خاوری ته راشم .
په لاره کی دلواړګی نومی علاقه کی سخت وویریدم ژړا
راغله پلار می راته وویل بچی ژاړه مه نور خو که خدای
کړی خیر وی ځوانیږی به دداسی ځایونو سره ځان
اموخته کړه داموټروان موټر ته ولی ناست دی خو
کنټرولوی به یی کنه ته وس ارام کینه دلته یو څو غټی
ساګانی واخله او قرار ویده سه همداسی می وکړل بی
غمه ویده سوم نور نو نه هغه ګړنګونو وویرولم او نه می
هم کوم ځای وکوت .
یو وخت و په سور پلنکوچ کی سور لمر راننوتیوو زما په
مخ ولګید سخت یی وسوزولم دخواږه خوب څخه راویخ
شوم پلار می راته وویل خه مزی دی وکړی بی غمه
ناست یی او خپل خوبونه وهی ما ورته خوله چینګه کړه
دتورخم سری ګرمی سخت پعذاب کړم بیا دموټر بد بویی
.
اخر می کانګی راتلی خو پلار می وویل بچیه ځان لګ
ټینګ کړه دادی هدی ته راورسیدلو .
ما په خوله لاس کیښودو دموټر نه چی کیوتلم سخت بی

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوره وم یو څو ټوخی می وکړل پلار می بوتلی اوبه راواخیستی په مخ یی راواچولی مور می هم سخته خرابه وه هغی اوبه وڅښلی ما هم وڅښلی لګ څه کښیناستم طبیعت می خه شو دتور خم په لاره کی می پلار سره یوه پیټۍ او دوه غټ غټ بیګونه وو نور ټول کور مو پیښور کی نیا کره پریښود .

پلار می داهر څه په لاس کی ونیول تللو داوخت مو مخی ته یو ګاډیوان ودرید ویل یی چی کاکا زه به یی درسره ویوسم ګاډیوان ته یی وویل :نه بچیه زه یی خپله وړم مور می پری تیزه شوه ګاډیوان ته یی وویل:څو روپۍ اخلی وروره ویل یی شل کلداری مور می پلار ته همدومره وویل چی تاسره به وس شل کلداری نه وی چی دیته یی ورکړی بیا یی کراچیوان ته وویل:واخله ویوسه داهر څه درسره وروره موږ درپسی یو پلار می مخکی ما او مور ورپسی وو تورخم کی هری خوانه منډی وی.

زما پلار هم په منډه خوشی وو .

دیو څه ځنډ څخه وروسته داسی ځای ته ورسیدو چی پلار می ویل چی بچیه دا ها خوا افغانستان دی او دیخوا پاکستان دی ته هلته وګوره یوه کربنه ویستل شوی ده ویل

(c) ketabton.com: The Digital Library

یی بچیه دغه کرښه یی بارډر دی ما دخوخۍ په پار یو ځل هاخوا ټوپ کړ بیا دیخوا بیا هاخوا بیا دیخوا داوخت یو پاکستانی پولیس راغی دمهربانی له مخی یی زما په دی پوله کی عکسونه واخیستل پلار می راته ولاړ وو چی زما عکسونه یی واخیستل او تری لاړو افغانستان ته داخل شو.

موږ دننګرهار په ګرمۍ کی ورداخل شو اول ځل می وو زما څه فکر وو چی داننګرهار به می داسی عمری استوګنځی شی خو ریښتیا هم زه خدای دننګرهار له پاره ، پیدا کړی وم

. پلار ته می خدای ډیر جایداد ورکړی وو

په افغانستان کی یی اول نه یو کور اخیستی وو او ټول سامان یی هم ورته پوره کړی وو خالی زموږ ورتګ وو زه په ننګرهار کی په بنګله کی رالوی شوم مکتب کی می . پلار واچولم مدرسا به می هم ویله

. قرانکریم می په یادو یاد وو خو ګردان به می پکی کولو پلار به می سهار وظیفی ته تللو او ماښام به بیرته کور ته راتلو ریښتیا هم چی ژوند مو له خوندونو ډک وو.

. زه په کرار کرار رالوی سوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډیر نازولی وم هیڅکله می هم سختي نه وه لیدلی خو افغانستان کی چی می مسلمانی ولیدله دپیښور داممانو په مسلمهنۍ کی راته شک ښاره شو.
هغوی صرف ځانونه مسلمانان ګڼل نور ټوله نړۍ ورته!کفار ښکاریدل .
دانه وایم چی هغوی په حقه نه ول هغوی په حقه ول ولی چی زموږ وطن کی امریکایان هری خواته ګرځیدل خو زموږ دوطن خلک ټول مسلمانان وو او هغوی ماته ټولو افغانانو نه کفار جوړ کړی ول,
کوم خلک چی نن سبا افغانستان ته داسلامی نظام سره دجنګ کولو دپاره راغلی دوی ټول هماغه زما دمدرسی صنفیان او نور بیچاره ګان دی چی بی ځایه وژل کیږی .
دوی چی جنګ کوی په دی فکر دی چی یو افغان هم مسلمان ندی او ټول مرتدین شوی دی خو ددی پته ورته نشته چی مرتد ته هم دری ورځی وخت ورکول کیږی که توبه یی وباسله خه ترخه کنه بیا یی وژل فرض دی بیا موږ خو مسلمانان یو ددین په لار روان یو شکر که زموږ په اسلامیت کی څوک د ټکی کدر غلطی راوباسی موږ به یی ورسره ومنو خو نه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویل کیږی چی دوه رقمه خلک تولنه ورانوی یو چی عقل ولری او علم ونلری او بل چی علم ولری خو عقل ونلری
.
ما په ننګرهار کی استقلال لیسه کی خپل دولس کلن مزل دتعلیم بشپړ کړ.
پلار می راته موټر واخیست په هغی کی به ګرځیدم یو څو ورځی می چکری پکی ووهلی نور می بیا زړه تور شو ورنه په همدی کی مو دکاکا واده راورسید کاکا می هوښیار شوی وو عمر یی لګ څه تیر کړی وو .
زما پلار ته یی ویلی وو چی واده نه وروسته به زه تاسره اوسیګم پلار می هم ورسره منلی وه.
کاکا می ددولسم فراغت ته راغی ډیر په خوښی ولمانځله .
بیا نو دکاکا واده می تیار شو .
پلار می دکاکا دواده مراسم غوښتل یو خوندور هوټل کی ترسره کړی هماغسی وهم شول .
داچی زما پلار مالدار سړی و زه دامهال خبر شوی وم چی پلار ته می خدای ډیر جایداد ورکړی دی او دماما دوخت حقیقت یی هم ټول راته بیان کړی وو .
داچی زه په ځوانۍ کی دپلار نه می ډیر ویریدم نو په واده

(c) ketabton.com: The Digital Library

کی هم ورځخه غاړی ته غاړی ته کیدم تر څو دمیلمنو مخ
کی می خپه نکړی ځکه چی دابیا سخت درد لری ما په
ننګرهار کی ډیر ملګری درلودل لکه حمزه حمکت او
همداسی نور دوی ټول راغلی وو زما دکاکا واده ته او
همداسی زموږ خپلوان هم ډیر زیات شوی وو ځکه چی
پیسی ولری ددنیا ټول خلک به دی خپلوان وي.
اصلا موږ په پاکستان کی هیڅ خپلوان نه درلود بغیر دماما
نه می ځکه چی زموږ ټول خپلوان افغانستان کی وو.
مامی دکاکا په واده کی نوی نوی خلک ولیدل .
هر چا به راسره ستړي مشی کول.
ما به هم په ورین تندی جواب ورکاوه سپینه جوړه او تور
واسکټ می کړی وو.
په هوټل کی به دهرچا نظر دشا نه ډیر زما طرف ته راتلو
.
یو وخت می فکر شو ټول ګډونوال ماته ګوری ورخطا
شوم ما ویل داڅه لوبه ده یو دم می دګیلاسو شربت دلاس
سره ولګید ګیلاس هم مات شو او جامی می هم ټولی
ولړلی ټول محفل خنداګانو ونیو ما هم ورسره خوله چینګه
کړه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

داوخت می ګورم پلار په دروازه کی ولاړ دی او برګ برګ راته ګوری !

دګوتی په اشاره یی وپوهولم تر څو یی خواته ورشم چی ورغلم .

راته خه خبری یی وکړی بیا یی وویل ګوره بچیه خپل شخصیت مه خرابوه ستا شخصیت خو دی ټولو خلکو وکوت نو وس ته ووایه زه ملامت یم چی تاته خبری کوم ماورته وویل :پلاره زه ورخطا وم ځکه داسی وشول بیا یی وویل خیر دی بچیه بیا داسی ونکړی سمه ده ما ورته وویل سمه لالا.

ویل یی مور دی درته غږ کاوه کور کی ته ورشه چی څه درته وایی ما ورته وویل دا څه وایی لالا په دی حالت کور ته سنګه لاړ شم ویل یی چی یو رقم ورشه دکور دروازه کی درته په طمع ده .

زه ورغلم مور می راته وویل چی داکلی واخله موټر دی بوزه یو څه انجونی دی هغوی لاره ورکه کړی هغوی راوله ما ورته وویل مور زه نو سنګه انجونی راولم .

بل چاته ووایه مور می وویل بل چاته ووایم دکاکا خو دی واده دی هغه خو نو نشی تلای ورپسی هله زر زه دروازه

(c) ketabton.com: The Digital Library

. یی راپسی بنده کړه
ما چغه کړه ورته مور نو زما جامی خیرنی دی ویی ویل
! پروا نکوی بیرته چی راغلی بدلی به یی کړی
. سخته وه خو بس پمپ ته ودریدم
. په یخه یخنۍ کی می لمنه په یخو اوبو ووینځله
. بیا موټر ته کښیناستم
! سیټ می ځانته برابر کړ
روان شوم تر څو؟
. انجونی راولم
مور می راته د تالاشي چوک نه ها خوا عیدګاه جومات
خودلی وو دشپی یولس بجی وی.
باران وریده موټر کی می لیټ بل کړی وو.
دشیشی هری خواته خاخکی تیریدل!
دیوخه مزل کولو څخه وروسته عیدګاه جومات ته
ورسیدم"
مور ته می زنګ ووهلو مور
. زه خو دعیدګاه جومات مخی ته ولاړ یم
دلته خو هیڅوک هم نشته ویل یی صبر زه یی نمبر مسیج
کی درلیږم ما ډیری چغی مور ته وکړلی چی مور زه نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

سنګه زنګ ورووهم خو هغی موبایل قطعه کړی وو یو
څه وخت وروسته می دمور پیغام راغی نمبر یی رالیږلی
وو.
ما وویل زنګ خو والاکه ورته ووهم مسیج چی ورته
پریښنود .
سلام اغلی زه د ښاغلي عادل صاحب ډریور یم.
تاسی چیرته یاست ما خو ډیر انتظار وکړ بیا یی وویل چی
شاته کوڅه کی یو سپره ده هلته درته ولاړه یم .
زه شاته کوڅی ته ورغلم خو هلته هم څو نه ښکاریدل .
لری ځای کی یوه انجلۍ ولاړه وه،
موټر می په زغاسته وروست .
ِ دی مخی ته یی ورغلم
چی ورته ودریدم انجلی وپوښتل :وروره دښاغلی عادل
صیب ډریور تاسی یاست ما ورته وویل هو اسمان کی
ګرزاری شو.
ما ورته وویل هله ژر راوخیجه چی باران تیز شو هغه
موټر ته راوخته .
سخته لمده وه دخپل مخ څخه یی نقاب لری کړ .
هغه یی په موټر کی زبښلو ماورته وویل :وبښۍ اغلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دباندی وربیخی موټر پاک دی بیا یی ویل:ښښنه غواړم
دنقاب لاندی یی لامده ویختان دسپینو اننګو دپاسه پراته وو
.
, مخ یی دنور شوغلی کولی
زه ورته مخامخ ښیښه کی فکر وړی وم چی یو دم یی زما
!خواته پام شو
لاس یی راته وخوځاوه زه داسی لکه دخوبه چی راویخ
. شوی یم
.راته یی وویل روان شه پخیر اسمان کی ګړبار شروع وو
زما زړه خو انجلی پخپلو اداګانو ویوړ دهغی لاس
خوځول دهغی غرور دهغی اننګی او دهغی ښکلا واه
. جالبه وه
,داسی خایست مانه ولیدلی
ما موټر چالان کړ خو نه چالانیده دا موټر بانټ می وچت
! کړ دموټر بیټری ډون شوی وه
هغه داسی چی ما موټر کی ایسی لګولی وه او موټر بند
وو او اوبه هم بیټرۍ ته ورغلی وی نو ځکه یی شارټی
. کړی وه
،زه په دومره لګ وخت کی باران پوره لوند کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library

. دشپی په یوولس بجی وس خا بل موټر دکومه کم
! بیا په داسی باران کی درته څوک چیرته ودریږی
خو باران سخت پعذاب کړم یو وخت ګلئ شوه منډه می
!کړه موټر کی کښیناستم دیخنئ نه ریګدیدلم
شاته سیټ کی می انجلی ناسته وه ځکه می ځان کنټرول
. کړ
دموټر دسیټ بوټ څخه می دست پاک راوویست ځان می
، وچ کړ خو بیا هم یخنی وه
. جینی وویل خا وس نو سنګه کیږی
ما به څه وخت ورسوی زه باید سهار بیرته کور ته لاړه
شم چی کور نه بیا زم پوهنتون ته اوله ورځ ده سبا زما
. هم سبا دپوهنتون اوله ورځ وه ورڅخه ومی پوښتل
کوم پوهنځي ته کامیابه شوی یی ویل یی په تایی څه نوکر
. سړی یی
موټر جوړ که چی لاړ شو پخیر داځل می هځی زړه
.نازړه دموټر کلی ورتاوه کړه
ګورم چی یو دم چالان شو موټر ورته ومی ویل دغه دی
چالان شو رازه چی ځو پخیر
هری خوانه دباران څاڅکی داسی تیریدل لکه دژوند

(c) ketabton.com: The Digital Library

.اخری شیبی چی یی وی موټر کی زیړ ګروپ لګیدلی وو
!اسمان کی پړک او پړوک شروع وو
موږ تر چوک تالاشی راورسید همداسی په کلاره په کلاره
. روان وم
جینی ته می وویل :نقاب دی وتړه وچ شوی به وی بیابه
خلک وایی چی ځوانه انجلۍ یی راوستی انجلی وویل
او هو ته خو داسی خبری کوی لکه ته چی عادل صاحب:
یی ورته ومی ویل تا عادل صاحب کی څه لیدلی چی هغه
. راته هر بار یادوی
هغی وویل :هیڅ خو عادل صاحب ته ته نشی رسیدای هغه
، یو پوه انسان دی اوته یو نالوستی او بی کاره ډریور یی
ما هیڅ هم ونه ویل په چوپه خوله می تر کوره راورسوله
هغه کیوته کورته لاړه مخامخ راته حمزه او حکمت ولاړ
.وو
زه دهغوی خواته ورغلم هغوی ویل چی خایسته انجلی دی
. پیداکړی خا ما ورته هیڅ ونه ویل
دپلار خواته ورغلم ویل یی عادله چیرته وی یار ورشه
. مور نه دی پیسی واخله او دوه منه منی پیدا کړه
سخته غوصه راغله خو پلار ته می څه نشو ویلی مورته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورغلم ورته می وویل موری څه خبره وه هغی وویل چی
مهی راوړه داوخت هغی انجلی چی ما موټر کی راوستی
. دمور خواته می راغله

مور می ورسره روغبړ وکړ ورته یی ویل سلام اسما
سنګه یی اسما ورته وویل:داستاسی ډریور ندی مافکر
کاوه غیبت به می کوی

ویل یی داډیر خه سړی دی زه یی خه په خوشحالۍ دلته
راوستلم مور می ورته وویل:خوله سمه خوزوه دازما
زوی دی داسما سترګی کړیغی راووتی ویی ویل:تاسی
دعادل صاحب نه غیر بل زوی هم لرۍ مور می ورته
وویل نه اسما بیا وویل نو دا مو کوم زوی دی مور می
وویل دا عادل دی کنه اسما حیرانه سوه او دډیری پښیمانۍ
.نه یی سترګی ښکته واچولی مور می راته پیسی راکړی

زه موټر ته ورروختلم هماغسی اسمان ګړزیده باران هم
.خپل موج کی وریده

لګ څه چی مخکی لاړم شاخوانه می مخ باندی لاس تیر
.شو

ما فکر وکړ زه وهم دی ویختانو کی می چا ګوتی ووهلی
خوند وکړ موټر می ودروو خو وروسته می خیال شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

. چې دابه سوک وی دویری څخه وریږدیدم
دروازه می خلاصوله ګورم دروازه هم بنده ده شاته سیټ
ته می نه کتل ما ویل داسی چې کوم بل شای وی زړه خو
. به می وچاودیږی
! ما سترګی پټی کړی وی
چې دیو انملی اواز می دموټر دمخکی سیټ نه واورید
ویی ویل:سترګی خلاصی کړه زه یم اسما هههههه
ویی خندل ما چې سترګی خلاصی کړی ساه می بنده بنده
کیده یو دوه منټو دپاره موټر نه کیوتم باران دریدلی وو
سرک تک تور ښکاریدو دبنګلو سره او شنه سراغونه بل
. وو
ما سینه نیولی او درکوع په ډول ولاړ وم
. لګ څه می چې طبیعت جوړ شو موټر ته وروختم
. ورته ومی ویل ته دلته څه کوی
. ویل یی غوښتل می چې ودی ویروم
! ماورته وویل ارمان دی پوره شو دادی ودی ویرولم
اسما وویل:اوه ته څومره زر غوصه شوی ما معاف کړه
ما ورته وویل چې ما سره داسی ټوکی مکوه ما ټول عمر
.په ناز باندی ژوند کړی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

، امکان لری په داسی ټوکو ومرم
په خوله یی راته دلاس لومړۍ ګوته چی غټ نوک یی وو
. کیښنود ویل یی داسی مه وایه
ما ورته وویل هن یو دوه ساعته راسره موټر کی څه پاتی
. شوی چی وس داخبری دی هم شروع کړی
جینۍ وویل خه سمه ده که ته یی نه منی نو زه درسره نه
. زم
ځکه چی ماښستا مور ته ویلی چی زه دعادل سره زم تر
میوو دوکانه پوری زړه می تنګ دی او که ته ما بونزی
. نو ستامور به تا ژوندی پرینږدی
M زه نو په دوو کی ګیر شوم
. ورته ومی ویل خا وس څه وکړم ویل یی
! باید ماته ووایی چی زه درسره مینه لرم
ما ورته وویل چی نه دومره وړه خبره نده ـ
خو نه یی منله ویل یی زه نه زم درسره زه هم وارخطا
شوم چی دڅه بلا ده وس څه وکم
. بس مجبوری وه ورته ومی ویل خو دزړه نه نه
.خالی په خوله
.اسما راسره کښیناستله

(c) ketabton.com: The Digital Library

"ماموټر چالان کړ دشپې ډیر ناوخته وو
. باران بیا خپلو ښاخکو ته زور ورکړ
s...داسمان په څوکو کی دتندر درزونه تلل راتلل
داځل یی نو سم شړک وهله؟
.مخکی لاره راته بیخی نه ښکاریدله
. دموټر په ښیښه می د دننه خوانه لاس تیر کړ
ِ بیا هم دبیرون خوانه پری ګلۍ وریده
ما موټر یوی غاړی ته ودراوه تر څو باران لږ ارام شي
بیا به لاړ شواسما هم څه ونه ویل راسره شاته نایته وه
.موټر کی مو یو زیړ څراغ بل کړی وو
.تور موټر تودی راسره وه
اسما به باران ته کتل ډیر خوند به یی ورڅخه اخیست ماته
یی خوند نه راکاوه ځکه ما غوښتل چی کور ته ولاړ شم
.واده کی ګډون وکړم
. خو اسما نه پوهیږم چی ولی خوشحاله بریښیده
,دیو څه ګړۍ وروسته باران لږ په قرار شو
.خو اسمان کی دبریښنا درزونه راتلل
او داسی دتباکن نه ډک دقوت اوازونه اوریدل کیدل چی
هیڅوک هم فکر نشی کولای چی داسی اوازونه دی بغیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

دطبیعت نه په بل کوم ځای کی دانسان په طاقت واوریدل
. شي
. داریشتیا هم چی دخدای تعالی کار دی
. ګنی دنیا دومره پرمختګ وکړ
خو داسی اواز یی جوړ نکړ چی په یو ځل سره ټول ښار
.وویروي
خو زما خدای په خپل قدرت سره یو ښار څه چی پوره یو
.هیواد ویرولای شي دخپل ځان څخه
ریشتیا هم چی دا حق دهماغی ذات دی چی انسان ورڅخه
.وویریږي
دصحت عامی په خوا کی یو کاکا مڼی ایخی وی خو زما
په خیال دخرڅ اراده یی نه لرله امکان لري بادار به یی
. کینولی وو ترڅو پالنه یی وکړي
کاکا ته خوب ټالۍ ورکولی خو پهردار وو ریشتیا هم چی
پایرداری ډیره سخته وظیفه ده خدای مو ورسره مه اړوه
یوه دقیقه به دربانددی داسی تیریږی لکه کال
. زه دموټر څخه ورکیوتم
دجمپر نه می اوبه څنیدلی ویختان می هم ټول لامده شول
.په منډه می ځان ورورساوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو پلاستیک منې یې راته په پنځه سوه افغانۍ راکولې
مجبوري وه ورنه مې واخیستلې.
!...موټر مې شاته له منو ډک شو
اسما کیوته مخکې کښیناسته ماته سخته غوصه راغله چې
. خه دیته وس څه ضرورت وو چې ااپسې راتله
څه مې ورته ونه ویل :کور ته روان شو اسمان لا هم
غوریده موټر مې په شنه منډه تر کوره راورساوه.
زه ولاړم بهر ته حجره کې دملګرو سره کیناستم دشپې تر
. ناوخته ناست وم
!... چای راته ایخی وو
په همدې همدې کې دسهار څلور بجې شوې اذانونه شوی
وو لمونځ مو اداکړ او له دې وروسته نو خوب نه کیده
ځکه چې دواده مراسم لا پاتې وو ډوډۍ مو په یوولس بجې
دورځې ورکوله.
!ټوله ورځ هم ځنګیدم
او هم مې کار وکړ کار ډیر نه وو ځکه چې ټول کار ګارډ
سونانو په هوټل کې کاوه.
مور به خالې میلمنو ته چوکۍ سمه کړه او روغبړ
همداسې نور څه کارونه دا هم اسانه نه وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

. دورځی په اته بجی روان سو په ورا پسی

په ورا کی می ملګری راسره وو خو مور می وویل چی هغوی بل موټر کی ولیګه او اسما باید تا سره لاړه شی ځکه چی په بل چادی پلار باور نلری اواسما ځانته کور ته راغلی وه .

. ماته سخته غوصه راغله

. انکار می مور ته وکړ خو پلار می راپسی غږ وکړ

. مجبور وم هغی ته ها وکړم

!..ځکه چی دپلار تباکن اواز ته ځوک نه ویلی شي

. حمزه دوی می دبل چا سره ولیګل

هغوی پوه شول چی مشکل دی ځکه یی ژر ومنله ماسره شاته سیټ کی اسما کیناستله.

ما هم موټر د ورا پسی خه تیز وروځغلولو تر ځو ځان . منډه ورا ته ورسوم

خو اسما پرینښودم ویل یی چی دی کوسه کی ایسکریم خرڅیږی هغه راته واخله بیا به ولاړ شو.

. غوصه راغله مخ می ورته راواړاوه

ورته کړه می:ته ځان ته څه فکر کوی اول دی په زور راباندی دمینی خبره وکړه وس ایسکریم غواړی ایا تاته

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه دومره لوده ښکارم چې یوی بازاری انجلۍ ته به ایسکریم اخلم ها .

اسما دواره له موټر څخه کیوته ویل یې سمه ده زه نه زم ته لاړ شه .

ما ورته ډیر ټینګار وکړ نه یې منله .

زه هم غیرت ونیولم څه دچا غلام خو نه وم او نه راته دچا دکوره راته راتله تری لاړم او انجلۍ می پر همدی ځای پریښوده .

په لسو منټو کی می ځان تر ورا ورساوه اول سر ته یې ورغلم ..

موټر می دورا دموټر نه مخکی مخکی کاوه دورا په موټر دهری خوانه کراسونه ول .

دابیا نو زموږ دننګرهاریانو خوندور رواج دی.

هر موټر ګلپوش موټر ته ځان رساوه خو هیڅ موټر هم شاته نه پاتی کیده ډیر خوند یې وکړ خو یو وخت چې ګورم حمزه ځان سره اسما کینولی او غوښتل یې زما څخه مخکی شي .

ما ځان سره فکر وکړ چې زه دهلک خو ډیر چالاک وخوت .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما هم خپه ورکړه دورا موټرونه راپسی وو خه په سپیډ کی
.ما دحمزه سره موټر اچولی وو
چی یو وخت می پلار زنګ راوو هلو سخت یی بی یابه
.کړم هههههه
ویل یی چی موټر نو دلوبو شی دی چی ته ورسره لوبی
کوی زه نو په قلاره شوم ورا مو په ټول ننګرهار
وګرځوله او خه خوند مو واخیست دننګرهاریانو داهم
.رواج دی چی په ټول ښار کی موټرونه ګرځوي
. واده مو خه په خوند سره تیر کړ ډوډۍ مو هم ورکړه
دمازیګر مهال کی نو ما غوښتل دحکمت او حمزه سره
کابل ته چکری ولاړ شم ټوله کورنۍ می تله۔
زه هم لاړم خوندور چکر مو ووهه واده مو خه په شان او
. شوکت سره تیر کړ
. دکانکور امتحان موورکړی و
. زه دحقوقو پوهنځی ته کامیاب شوی وم
!...دچهارشنبی په ورځ می دکاکا واده وو
.او دشنبی په ورځ دټول افغانستان پوهنتونونه شروع کیدل
. دلومړي ځل لپاره پوهنتون ته روان سوم
دننګرهار پوهنتون دښار ښخه ډیر لیری یو ځای کی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

. چی ریکشه ورته یونیم سل روپو پوری کرایه اخلی
داځای درونټه نومیږي.
اکثرو ننګرهاریانو یی نوم هم اوریدلی او ورغلی هم دي
درونټه ښکلی دچکر ځایونه لری لکه پارک جوانان
. شړشړه پخپله ددرونټی ډیم
شاته یی دشین لغمان ښکلی سیمه ده چی اوبو پوښلی ډیره
.ښکلی دننداری سیمه ده
!...زه په لومړي ځل پوهنتون ته ولړم
.لګ څه ناوخته وو
ما نو شاته خکلی بیګ اچولی وو لومړۍ ورځ وه نو ډیره
.خواری می پر ځان کړی وه
.سکریپ می وهلی وو توری چشمی می په سترګو وی
چی ورننوتم همصنفیانو می فکر وکړ چی دالکه شی استاذ
.دی
.زه چی ورننوتلم داستاذ تمثیل می شروع کړ
په لومړی ورځ یی ټولی انجونی او هلکان په یو صنف
.کی کینولی وو
ما نو شروع وکړه ورته ومی ویل زه نوی استاذ یم
. چشمی می دمیز پر سر کیښودی

(c) ketabton.com: The Digital Library

. مارکر می اوچت کړ
. یو صنفی می پاساوه ورته ومی ویل:حقوق تعریف کړه
داوخت دپوهنتون مدیر راهغی زه ولا سخت خیجالت شوم
.
هههههه
. زر په څوکی کښیناستم
. ټولو صنفیانو سخت وخندل
په دی ورځ داکټرو صنفیانو سره معرفی شوم یو می پکی
کلک ملګری شو.
ځکه چی هغه هم په صنف کی زما په شان شوخ وو.
خو بی ادبه نه وو.
او بیا دپوهنتون استاذانو سره چیرته څوک بی ادبی کوای
. سی دانجونو مخ کی دی خه برابروی
په اوله ورځ استاذ دتعریف مشال او همداسی دپیژندګلوی
په باب خبری وکړی.
پوهنتون رخصت شو.
مور. هم راوتلو دری صنفیان راسره یوځای روان و.
واقعیت دی چی شوخ انسانان هرځای کی ډیر مینوال
. پیداکوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

په لومړی ورځ راسره دری تنه ملګری شو۔
. موږ وتلو شاخوا نه راپسی غږ وسو
.عادل صاحب چی مخ می راواړوه ګورم چی اسما وه
. ما ورته وویل ته څه کوی دلته
ویل یی زه هم دحقوقو محصله یم کنه تاته ما موټر کی ویل
. خو تا خبره وانه وریده
.اوه ریشتیا مطلب دلته به می اوس ته غم صنفۍ یی
ویل یی:ولی زه تاته څه غم ښکارم ما ورته وویل نه
.تندی یی غونج کړ په تیټ سر ولاړه
. ملګرو می وویل :هلکه سهاره دادی لکه چی خپلوانه ده
ماته به یی کور کی عادل ویل خو دبیرون نوم می سهار
.وو
ما ورته وویل:همداسی یی وبوله
هغوی ویل رازه یاره نو ولی دومره اندیښمن شوی ورته
.داخو دومره لویه خبره نده
.ما ورته وکتل او یوه دبی عقلۍ خندا می ورپورۍ وکړه
هغوی نه ووخبر چی اسما څه غواړی او نه زه وم خبر
..کنه زما هم زړه دتیګی نه وو
.ضرور به می ورسره اړیکه پاللی وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو هغی داپخپله نه ویل چی مینه درسره لرم بلکی په ما
یی ویل اصلا زه هغه وخت په دی خبرو نه پوهیدم اونه
چا پوهولی وم.
ځکه زما ناسته پاسته ټوله د ویناوالانو لیکوالانو او صفا
خلکو سره وه.
داسی کوم چا سره نه وم پاتی شوی چی په دی خبرو یی
پوه کړی وی.
. خو داملګری می په دی خبرو پوهیدل
. پوه یی کړم چی انسانان دمینی لپاره پیدا دی
باید چی مینه خوره کړی
همداسی ډیری نوری خبری یی وکړی چی زه لا پری نه
. پوهیدم
اوس نو پری پوه شوم ځان راته ډیر نیکمرغه ښکاریده
چی داسی خکلی انجلۍ راباندی مینه شوی.
. داسما شمیره دکور په موبایل کی وه
خو زړه می دانه غوښتل او نه می هم ضمیر منله ما ویل
. که سبا ورشم ورته پخپله به ووایم
خو تر سبا انتظار ډیر سخت وو.
نه پوهیږم دژوند دومره شیبی می بغیر له اسما نه تیری

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړی وی.
. خو نن شپه می نشوه تیرولای
دا دپوښتلو خبره ده زه نه پوهیږم داهم دانسانانو خواص
. دی
خو دشپی ناوخته می ځانته دا وویل چی امکان لری یو
کال هم اسما سره ونه ګورم نو زه به صبر نشم ک لای
هماغه وو چی خوب راغی او ویده سوی وم.
. سهار می مور دروازه راټک ټک کړه
ویل یی پاسه عادله پوهنتون دربانذی ناوخته کیږی که
. پاتی شوی بیا دی بیګاه ته پلار نه پریږدی
. زه می دخپل پلار نه سخت ویریدم
خو دپلار دویری می ځان زرزر برابر نکړ بلکی داسما
ددیدن لپاره می ځان زرزر برابر کړ.
په لاره کی به می ریکشه وان ته یو شل ځلی ویلی وی
. چی استاذه زر زر زه
. چی پوهنتون ته ورسیدم ساعت می چی وکوت زه
. نیم ساعت مخکی راغلی وم
نیم ساعت هم لکه کال تیر شو.
دپوهنتون تالی ږغ وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سم دستی استاذ راننوت نیم ساعت وروسته یی ورپسی اسما راغله پوهنتون ته بیا نو خبره اوږده شوه هر ساعت کی به استاذ وتو بل به راننوتو.

ما دکلاس تر اخره پوری هیڅ وخت پیدا نکړ.

هر کله چی کلاس ختم شو اسما اخر کتار کی ناسته وه انجونی البته اخیری کتار کی کناستلی اول انجونی ووتی بیا ورپسی هلکان.

ما منډه کړه ترڅو تسما ونیسم .

په منډه می راګیره کړله .

دزړه نه می ورته وویل:چی اسما زه درسره مینه لرم دزړه نه.

اسما په ژړا شوه .

غوښتل یی غیږی ته می راشی خو هری خواته محصلین روان وو.

ما ورته وویل :ماسپښین به درته زه ادم خان کبابی خواته انتظار یم ویل یی ولی نه ضرور به راځم.

دامهال می ترینه خالی شماره واخیسته .

داسی فکر می کاوه لکه غټه شتمني چی می لاسته راوړی وی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ریشتیا هم اسما وعده خلافه ونښته زه ورته دادم خان کبابی دوکان مخی ته ولاړ وم.
. سره دموټره راغله موټر ته راوخته
. موټر کی شاته سیټ کی کیناستله
دننګرهار ګرمئ نو بیا حد شروع کړی وو.
. اسما له مخ نه تور نقاب لری کړ
مخ یی دسپینی سپوږمی په شان په تورو وریځو کی راښکاره شو.
. دا ځل نو داسما کتو یوه بیل رقم انرژی راکوله
. ما فکر کاوه
چی نور دی هیڅ نه وایی بس چی خالی داسما مخ ته می شپه او ورځ کتلی .
پدی ورځ می نواسما ته وویل چی چیرته لیری به ولاړ شو.
دلته خو خلک ډیر دی.
ویی ویل:کامی ته به لاړ شو
. ورسره ومی منله موټر می دکامی په طرف روان کړ
یو وخت ګورم اسما راته زیر زیر کتل.
. ما ورنه په بی پروایی پوښتنه وکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

څنګه چل دی نن راته دحد نه زیاته نه ګوری.
ویل یی زه ستا په مخ نه یم مینه شوی زه ستا په کردار او
ادا مینه سوی یم او ستا په نوم مینه سوی یم ما وخندل
هههههه.
. ما ورته وویل ته هم لکه زما لیکواله یی
ویل یی نه ایا ته لیکوال یی.
. ماورته وویل:هو زه یو لیکوال یم
. هره شپه چی کومه افسانه نشریږی
دهمیشه بهار راډیو نه دا زه لیکم.
. ویل یی واه
داوای څوک ما ورته وویل:ما ورته وویل وایم یی هم زه
. کنه
ویل یی په خدای زه ددی داستان سخته مینواله یم هره
. ورځ یی تعقیبوم
M په دی داستان ګی خو دسهار په نوم لیکوال کار کوی
ماورته خپل لیسنس وخود زما نوم پکی سهار وو ویل خا
مطلب ته سهار هم یی.
. ما ورته وویل هو
کامی ته ورسیدو خوندور شیریخ مو وخوړ دسیند په غاړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

. کیناستو غټو الوبالو والا تیریده
داسی یو کیلو می ورنه واخیستل دسیند خواکی مو یخ
. الوبالو وخوړل
. یو وخت راباندی اسمادسیند نه اوبه راواچولی
.ما په هغی واچولی اسما لنده شوه جامی یی لمدی شوی
ما ورته وویل ښښنه غواړم پوه نسوم دخپل دست کول نه
.. یی کاغذ پاک راواخیست جامی یی پری وچی کړلی
.دشاخوانه راباندی غږ وشو واوری
. ما چی مخ ورواړوه
.یو بریتور سړی وو
ویل یی
تاسی دلته څه کوئ
زه سخت ورخطا سوم خو اسما ورته وویل دزما خاوند
دی
.ماته خندا هم راتله او ژړا هم ځکه زه او خاوند هههه
.پدی شیانو کی ما لا تراوسه فکر هم نه ووکړی
بریتور وویل:زه دکامی ولسوال یم ما ویل خدایه خیر کړی
داسړی راته هڅی نه کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

غم جوړ کړي
ويې ويل:تاسې نه یاست خبر کوم ځای کې چې تاسې په
. اوبو لوبې کوئ داځای یو دل دل دی
. دلته چې هر څوک لږ هم ورډیکه شوي بیا ندې راوتلی
ریشتیا هم چې ټول خلک وایې کامه کې یو دل دل دی موږ
. واقعا ډیر وبیریدو دهغه ځای نه ډیر لرې ولاړو
. دټکنده غرمې دوه بجې وې
تروه کبان او لګ څه الوبالو یا ګیلاس مو راواخیستل
. سخت وږی شوی وم
تروه کبان مې سره دډوډۍ خه په خوند خوند وخوړل اخر
مې ورپسې کوک په سر واړوه.
سخت خوند یې وکړ.
اسما هم دچکر نه سخت خوند واخیست کبان هغې5 هم
. دسیند په غاړه وخوړل
دکونړ سیند چې په کامه هم تیر شوی و ماته اسما وویل
. ددې سیند اوبه نو وس چیری زی
ما ورته وویل داتولې ځې پاکستان ته.
پاکستان کې ورته پنجابیانو دورڅک ډیم په نوم غټ ډیم
. جوړ کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

. ددی ټولو اوبو نه هغوی فایده اخلی
اسما وویل:کاش چی دا اوبه زموږ وطنوالو ودرولی وای
ما ورته وویل :دازموږ حکومت ته په اوس وخت کی ډیر
. اسانه دي
یو وخت به داسی راشي چی بیا به خلک وایی چی امریکا
دومره زیاتی پیسی افغانستان ته ورکولی چی ټول
. افغانستان پری جوړیده
. خو بیابه دټولو دلاسه وتلی وي
اسما وویل ریشتیا هم که بهرنیان دومره زموږ غم خواران
وي کم از کم زموږ دااوبه خو دی زموږ له دښمن نه راته
راواړوی.
ما ورته وویل:تیره شه تری سیاست سره می نه لګیږی
. داووایه چی چکر خوند درکړ کنه
اسما وویل :عادله ما ورته په خوله لاس کیښود ورته ومی
. ویل زه عادل نه سهار یم ماته په سهار غږ کوه سمه ده
زه په دی نامه خوشحالیږم.
موږ دسیند په پوله ناست وو چی داسما پخه خویه شوه او
. سیند ته وغورځیده ما هم ورپسی لکه دلیونی ورټوپ کړ
خو داسما وزن ډیر زیات وو نه می شو کولای چی اوبو

(c) ketabton.com: The Digital Library

. ښخه یی وباسم
.ډیره خواری می وکړه
اخر کی می دوه لغتی کلکه وو هله ایله چی وچی ته
. راورسیده
ههههههه
ما هم لامبو وهله تر څو وچی ته راشم خو اسما ته په لغتو
.ورکولو زه بیخی منځته تلی وم
. زه نو اوبو وړی وم
.او اخر یی بی خوده کړی وم
. یو وخت می چی سترګی پرانیستلی
.خیټی نه می لکه دکانګو پشان ډیری اوبه رابهر شوی
. دواره چی می زړه سپک شو
اسما راته مخ ته ولاړه وه او په خیټه یی راته زورکولو ما
.ورته وویل:ظالمی مړ دی کړم
.ته خو په خپل زور نه یی خبره
واقعا چی اسما ډیره زوروره او خدای خه خوندوره باډی
.ورکړی وه
. ماته یی ویل سهاره شکر دی چی په سد راغلی
. ته خو خه یی کنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه چی راپاسیدم مابنام خپل تورتم دسیند هری خواته په
کلاره کلاره خوراوه.
. ما اسما ته وویل:زر کوه پخیر چی ځو
. ناوخته دی
. اسما موټر تر دی ځایه رارسولی وو
. موټر می خه په سپیډ کی وځغلولو
.یو وخت راباندی چپی راتلی
اسما وویل:موټر ماته پریږده په روانه کی مو سره سیټونه
.بدل کړل
موټر کی ویده شوی وم یو وخت می سترګی وغړیدی
موټر دتالاشي چوک په څلور لاری کی ولاړ وو.اسما
. وویل زه به دی تر کوره ورسوم
. خو مور ته به دی څه بهانه کوم
ما ورته وویل:مور پریږده زه به ورته ووایم چی خوب
.راځی
. اسما وویل یو چل به وکړو
ما ورته وویل :څه چل
.اسما وویل :تا به زه ترکوره ورسوم
. هملته به زه هم درسره پاتی شم

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه به خپلې کورنۍ ته ووایم چې همصنفۍ کره مې پاتې یم
. ځکه چې زه داوخت که کور ته لاړه شم
. مشکل راته جوړیږي ما ورته وویل:سمه ده
خوب کې وم په خبره یې پوه نسوم ځکه مې ورته وویل
.سمه ده
. ګنی خبره یې سمه نه وه کړې
کور ته چې ورسیدو زه مخکې لاړم تر خپلې کوټې پورې
.موټر مې ګراج کې ودرولې و
.اسما هم پکې وه
. ها خوا دیخوا مې مور وکتله
هغه لګیا وه پاس منزل کې یې لمونځ کاوه دماسخوتن او
پلار مې ډوډۍ خوړله ما اسما اول منزل کې خپلې کوټې
. ته راوستله
زه خه په بې غمه خوب ویده شوم

دسې یو ساعت به نه وو تیر شوی چې اسما راویخ کړم
. چې مور دې دروازه ټکوی
. نیغ له خپله ځایه پاسیدم
هغې ته مې وویل:ته کټ لاندې پټه ریشتیا هم پټیدلو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

.یی مهارت درلود
مور ته می دروازه خلاصه کړه ویل یی:ولی ناوخته شو
عادله ځویه ورته ومی ویل :موری ولا یو ملګری سره وم
.
ګپ شپ مو لګ اوږد شو ځکه ځنډ شوم ویل یی:سمه ده
خو پخپل وخت کور ته رازه هڅی نه خدای مکړه انسانان
ډیر ظالمان دی ته خو زموږ یو ځوی یی مور می راسره
. کټ کی کښیناستله
. قیصه یی شروع کړه
.دداود خان دوخت قیصه یی کوله زما فکر اسما ته و
.خدای خبر ښنګه قیصه یی وکړله
بیا یی دظاهر شاه دوخت کومه قیصه شروع کړه اسما لګه
څه وزن نه غټه وه یو خو دکټ لاندی بیخی تنګیده هم خو
. ډیره سخته وه پری
سخته خندا راغلی وه خو د مور مخکی می نشو خندلی
هههههه
مور ته می وویل چی موری تر ورشه لګه ډوډۍ راوړه
.هغه لاړه اسما هم راووتله
هههههه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما ته خندا راغله نو دزړه دخلاصه می ورپوری وخندل
سختی خبری یی وکړی ویل یی.
. خانده خانده
دا خو می لومړیٔ ورځ ده تاسره چی په دومره غټ ځان
دی دډبل بیډ لاندی اچولی وم.
او بیا دامور دی څومره قیصی کوي.
داوخت می مور غږ وکړ.
عادله دسترخوان اوار کړه چی ډوډی می درووړه اسما بیا
ورخطا شوه.
. داځل نو بیا دبیډ لاندی ننوته ډوډیٔ خه وه ډیره یی راوړه
. زما او داسما ددواړوکار پری وشو
ډوډی مو وخوړله او ویده سو سهار وختی اسما راپاسولم
لمونځ می وکړ اسما می پخپل موټر کی تر کوره ورسوله
ایله چی می غم دسر نه هاخوا شو.
خو داسما په نشتون کی می یو ځل بیا داسما نشتون هیڅ
. کړ حال داچی اته بجی پوهنتون شروع کیده
. بیا مو سره کتل
خو دومره انتظار مو نشو کولای ددیدن لپاره
خو مجبوری وه کولو به مو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په فکس اته بجی بیا پوهنتون شروع سو.
په دی ورځ بیا استاذانو لکه دتیر په څیر خپل درسونه تشریح کړل.
خو زه یو چا له درسونو څخه ویستل وم.
هر کله چی رخصت شو ورسره می د غازی امان الله خان پارک وعده کیښوده چی هلته به راځی بیا چی ه هری خوا تلو لاړ به شو.
خو په دی ورځ دچوټۍ په وخت کی استاذ وویل کینی چوټۍ شوی لانده .
یوځل حاضري واخلو بیابه ځۍ.
استاذ حاضري شروع کړه .
دحاضری په اخر کی داسما نوم وو .
ویی ویل :اسما یی خیر محمد.
زه فکر کی لاړم چی داخیر محمد به لاسوک وی .
اسما راته مخکی نه ویلی هم وو.
چی زما کورنۍ په پاکستان کی اوسی دلته دکاکا کره اوسم.
پاکستان کی په کالج ډیری پیسی راځی.
نو ځکه می خپل ماما ذهن ته راغلو دهغی نوم هم خیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

محمد و۔
. دچوټي نه پس زه لاړم کور ته ډوډۍ مي وخوړه
په يوسيار کي مي ځانته فلم چالان کړ تر دری بجو پوری
فلم وکوت Happy new ear مي دشارخ خان.
. څلور بجي مي اسما سره وعده کړی وه
نوځکه مي په منډه ځان تر موټره ورساوه مور مي لګيا وه
. ګلدانيو نه يي خراب ګلان ټولول
راغږ يي کړ عادله صبر وکړه پلار دی درته يو واسکټ
. اخيستی هغه واغونده بيا زه
. ما ورته وويل:خه موری زر زر يي راکوه چي زم پخير
دزړه له زوره مي واخوست ولی چي زما هيڅ له واسکټ
سره جوړه نه وه.
خو هر کله چي اسما دواسکټ سره وکتل سخت يي خوښ
. سوم
. ما په زړه کي دخپلی مور څخه زياته مننه وکړه
اوپه دی ورځ مي اسما تر درونټي چکر ته بوتله خو داځل
ډير پاته نشو او ژر راغلو.
. وخت تيريده
يووخت کي اسما دپوهنتون څخه پوره لس ورځي

(c) ketabton.com: The Digital Library

. رخصتی واخیسته
زه چی به کله پوهنتون ته لاړم په دی لس ورځو کی هره
. ورځ به وختی راوتم
.بغیر داسما نه راته پوهنتون خوند نه راکاوه
دلسو ورځو وروسته چی اسما راغله زما ذهن ته لومړی
دخیر محمد ماما پښتنه راغله ورنه ومی پوښتل اسما ستا
.دپلار نوم څه دی ویی ویل خیر محمد
ما ورته وویل کوم خیر محمد هماغه چی پیخور اسلام اباد
.کی اوسی
. ویل هو تاته څه پته ده چی زما پلار اسلام اباد کی اوسی
ومی ویل:زما ماما هم پاکستان کی ژوند کوی اسلام اباد
mکی هغه هم خیر محمد نومیږی
. اسما هوښیاره انجلی وه
ویل یی نن غرمه به چیرته ولاړ شو چکری بیابه ټولی
. خبری سره وکو
دلته پوهنتون کی نوری خبری کول زموږ لپاره مناسب
.ندي
اسما بیا ولاړه صنف ته زه هم ورغلم استاذ نن بیا لکه
.دپخوا په څیر درس ورکړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

دمیاشتی امتحان ددی ورځی په سبا و.
. ما اماده ګی خو لا څه کوی
. کتاب مخ نه وو لیدلی داستاذ یوه خبره می نه وه اوریدلی
. نن یی هم قیصه کی نه وم
پوهنتون رخصت شو.
اسما ته می همت کاکا سوپ والا وروو خوده.
دننګرهار خوندور سوپ پخوی ټول ننګرهاریان یی
پیژنی دمیوی منډوی نه شاته دغوبنو والا سره یی دوکان
دی.
. ماهم اسما سره هماغه ځای وعده کیښوده
چی هلته به سره ګورو.
. کور ته لاړم بیګ می د سوفی په سر کیښود
. پخپله په ډبل بیډ کی کښیناستم
یوسیار می چالان کړ.
. مور ته می ورغږ کړ مور ډوډی درسره راوړه
نن ورسره لګ چای هم راوړه مور زړه می ورته شوی۔
. یوسیار کی می پرونی پاتی فلم وکوت
دغرمی ټایم کی ووتم.
تر څو داسما وخواته لاړ شم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسما زما نه مخکې دهمت کاکا سوپ دوکان خواته ولاړه
وه همت کاکا چې وکتم روغبړ مو سره وکړ موټر ته یې
. یو دوه پلیټه سوپ راوړ
.سوپ مو نوش جان کړ
همت کاکا ته مې دوه سوه روپۍ ونیولې همت کاکا وویل
که نه وی خیر دی کنه مننه مې تری وکړه پیسې مې
.ورکړې او ورڅخه روان سوم
اسما ته مې وویل خا ګرانې نن به چیرته ځو پخیر ویل یې
. نن به لاړ شو
دره نور ته
هههههه ومې خندل ورته ومې ویل:دره نور خو لرې هم
. دې خو زه زما دپلار یو ملګری پکې شته
. چکر به ووهو
. داسما سره یوځای دره نور ته روان شوم
.په لاره کې نو دکونړ سیند خه په جوش کې وو
.لکه یو نوی ځوان داسې په قوت کې روان و
. ددوکاندارانو نه مو یو څه کبان او نوشابه راونیول
تروه کبانو ډیر خوند کاوه خو چکنې ورسره نه وه مخکې
.چپس والا نه مو چکنې هم راواخیسته

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوک مو ورپسی وښنلو.
. په خپل ټوډی کی مو خواړه وخوړل
.او روان شو خیوه نومی ځای هم ښکلی وو
اسما سره یو موبایل وو چی پلار یی ورته دپیښور نه راالیګلی و.
ما هم موبایل اخیستی شو خو زما شوق ورسره نه وو ځکه چی نه می هم کوم ملګري سره وو او نه هم کوم هم صنفی سره .
اسما په خیوه کی ښکلی ویډیو ګانی وکړی ټیک ټوک ته یی نشر کړلی .
خپل ځان یی پکی نه وو راوستی صرف یی پکی زه راوستی وم .
.خدای خبر چی هغه چکر ولی ددومره خوخی نه ډک وو
دتروو کبانو پسی مو تروه او فرینډ چی یخ نیولی وو داسی الوبالو وخوړل دننګرهار ګرمی نو ورکه شوه ځکه چی په کلو ورګډ شو.
. ورو ورو بره تللو
دغونډی په اخر سر کی دلال ماما کور وو یو وخت کی می پلار ورکره راوستی وم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

.خه سړی وو
لال ماما مو ځان سره کړ ددره نور دیو یو غره منظره مو
. وکړه
. پدی وخت کی نور نو دماښام تورتم خوریدلو
موږ بیرته خپل موټر ته ځان راورساوه تر څو لاړ شو خو
. دموټر ټیر مو پنچر وو
.لال ماما هم زموږ دنوی مینی په قیصه خبر شوی وو
ویل یی تاسی همدلته پاتی شی په دی وخت کی خو دلته
پنچر مین نشو موندلی خو بازار کی دورځی یو پنچر مین
.وي
زما سټپنی هم دیاده وتی وه چی موټر کی می ایښی وی
ځکه چی ټول عمر می خار کی موټر چلوای وو .کله
.راباندی پنچر شوی نه وو
.دااول ځل وو
دلال ماما ښځه چی ډیره بوډۍ وه ما او اسما ته یو کوټه
ځانګړی کړه ویی ویل :داستاسی کوټه شوه ډوډی زه
. راوړم
نور نو هغه لاړه ما اسما سره دخیر محمد ماما بحث
.راواخیست

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسما ویل چی زما دتره نوم لال محمد او دتره ځوی نوم
می ضیا دی .
زه ایله بیله چی باوری شوم چی اسما می دماما لور ده .
اسما می مور هم پیژندله چی دماما لور می ده.
خو زما نه یی داخبره پټه ساتله ځکه چی زما اوس هم خپل
ماما ته وینی خوټکیدلی.
مانو نور نه غوښتل چی داسما مخ ته دی هم وګورم ریشتیا
هم چی کرکه دغسی شای وی .
یو وخت بغیر له اسما راته ټول پوهنتون خوند نه راکوه
خو اوس چی راسره ده خفه وم .
شپه تیره شوه موټر هم جوړ سو .
په سبا یی زه پوهنتون ته ناوخته ورغلم امتحان رانه تیر
وی خو ورمی کړ .
اسما راپسی شانه غږونه وکړل.
خو زه لاړم .
زما فکر صرف همدومره وو چی ماما می دپلار سره ظلم
کړی خو هغه دیو هوښیار خبره نه وه راته یاده چی وایی
په ژوند کی که هر انسان ته موقع پیدا شوه چی ستا سره
ظلم وکړی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو هغه به هیڅکله هم تری تیر نشی مګر چی که هغی ته مشکل وی بیا تری تیریدای شی .
زما پلار هم ماما ته می دظلم موقع ورکړی وه.
دومره غټ باور یی په خپل اوخی کړی وو چی ټوله شتمنی یی دهغه په نوم کړی وه .
اوبیا دهغو خپلو کی داوښی او دخسرګنۍ کلکه خپلوی وه چی هر څه ورسره شوی دی خپله غلطی یی وه زما دپلار ما نو ولی خپله مینه دخپل پلار له سر نه قربانی کوله.
ما خپله مینه قربانی کړه ماته نو نور پوهنتون هیڅ خوند نه راکاوه .
دیو څه وخت وروسته لاړم پاکستان ته.
هلته می غوښتل څه کاروبار شروع کړم دپلار موسسی می هم هاغه پخوانۍ خونده نه وه پاتی .
ماپری کاروبار نسوای شروع کولای .
نو ځکه اړ شوم تر څو یوی کارخانه کی کار وکړم .
زه یوی کارخانی ته لاړم دجوسو کارخانه وه.
خو دننه پکی شراب جوړیدل همدوی سره می کار شروع کړ ګر چی زه قاری وم .
خو له دی ماسیوا می بله لار نه لرله ځکه چی ما ډیری

(c) ketabton.com: The Digital Library

. پیسی او ډیر قدرت غوښت
زه نو دشهرت دپیسو او دروب او دبدبی غوښتونکی شوی وم .
. یو څو ورځی می کار وکړ
مادلته کار ددی لپاره کاوه تر څو زور پیدا کړم او ماما څخه می غچ واخلم .
. خو یوه ورځ عجب کار وسو
.ماما می افغانستان ته تلو په لارهکی چا برمته کړی وو
M ماته داخبر اسما راوړ
داسما ترټولو نه زیات شک پر ما راته.
.دټولو شک پر ما وو ځکه زه دلته وم او دشمن یی هم وم
. زه یی دخپل ماما په کیس کی زندان ته بوتلم
.یو څه پیسی می دشرابو کاروبار کی ګټلی وی
. هغه می دزندان نه دخلاصیدلو لپاره ورکړی

زه خوشی شوم وتختیدم زندان کی چا راته دارکی ادرس راخودلی وو چی کولای یی شول ماته روب او دبدبه راکړی .
. نو ځکه دهغی خواته ورغلم

(c) ketabton.com: The Digital Library

. دارکی ځای ډیر ګنده وو
.وحشتناکه ځای وو
زه ورغلم سلام می واچوه ورته ومی ویل :سلام ارکی
چیب زه یم سهار افغانستان نه راغلی تانه کی راته جواد په
. نوم کس ستاسی ادرس راکړ ځکه تاسی ته راغلم
ارکی په تباکن اواز وویل څه غواړی
.ما ورته وویل دبدبه شان شوکت غواړم
ارکی راته وویل رازه سهاره زه درته یو کار خایم که په
. خه ډول دی وکړ
. بیا نو تا مشهوروم
ته به ډیره لوړه رتبه ولری افغانستان کی ما ورته وویل
. څه کار دی
. ویل یی افغانستان کی یو جنرال دی
د قدوس په نوم مشهور جنرال دی که هغه دی وویشت ته
روب داب هم پیداکړی پیسی هم او درپسی به رنجری
. ګرځی
. ما ورته وویل سمه ده
خو زه یو شرط لرم ارکی وویل څه شرط ما ورته وویل
زما ماما ورک دی هغه به هم راته پیدا کوی اوی‌چی پیدا

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی کړ ځان سره به یی ساتی تر څو ورڅخه زه خپل قصور واخلم .

ما می دماما کار ارکی ته پریخود زه افغانستان ته خه مجهز راغلم تر څو جنرال قدوس وولم .

ډیر نفر یی راکړی وو.

همداسی وسلی هرڅه .

پلان می دخپلو ملګرو سره جوړ کړ .

دسی شنبی په ورځ جنرال قدوس تللو یو واده ته چی په هوټل کی وو.

په هوټل کی به جنرال قدوس دخاصو میلمنو ځای کینی . او دسنګ خوا کی یو بل هوټل دی چی هغه کی به موږ کمین نیسو او جنرال قدوس به ولو .

دشپی دری بجی موږ لاړو هوټل ته دهوټل ټول کارګران مو برمته کړل.

هیڅ کوم کوروالا خبر نشو.

کارګران مو ټول په یوه خونه بند کړل.

او خپلو ملګرو ته مو دکاریګرو جامی ورکړی.

سبا دورځی لس بجی جنرال قدوس دسنګ هوټل ته راته.

زما لومړی ځل وو چی یو انسان وژنمه خو بازی وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library

کی انسانان اول ځل کی داسی کار وکړی چی بیا وروسته ورته حیران وی .
زه هم همداسی وم .
سبا په لس بجی جنرال قدوس راغی زمونږ دپلان سره سم همغی کوټی ته یی راوستو هو وروسته څوک راغی او جنرال قدوس یی په منډه وباسلو.
منرال قدوس په منډه ځان خپل موټر ته ورساوه .
کیناست او ولاړ .
سخت درد لری داسی ناکامي خو زما نور نو دماغو کار ونکړ موټر می واخیست ورپسی شوم .
غوښتل می په یوازی ځان جنرال قدوس وولم.
جنرال قدوس خپلی قرار ګاه ته ورسید څنګه چی دموټر نه کیوت موټر نه می سر ونه باسلو .
په شیشه کی می په داسر وویشت .
نور می دمخ نا ټوټه ټاوه کړه.
او ځان می وباسلو خو ټولی موټری دپولیسو راپسی وی موټر تاکاوی ته ننباسلو.
یوبل کس موټر ته ختلو دتوفنګچی په زور می ورنه موټر واخیست راووتلم .

(c) ketabton.com: The Digital Library

.خو پولیسو ته دی نفر دخپل پلیټ نمبر ورکړی وو
زه پدی پوهیدم ځکه نو دیو څه مزل څخه وروسته موټر
څخه کیوتم او په منډه می هوټل ته ځان ورساوه ټولو
. ملګروسره له هوټله ووتو
.غټو موټرو کی وو توری ښیښی یی لرلی
ځکه نو چا تالاشی هم نه کوله او خه په راحت پاکستان ته
.راغلم
. ارکی ته چی می کیسه وکړه
ویل یی افرین پوره یولک ډالر یی راکړل او افغانستان کی
.یی هم لوړ رتبه چارواکی کړم
زه چی هرکله افغانستان ته بیا دانسانیت په جامو کی
. ولاړم
. نو اول می دمور اوپلار په لټه کی شوم
.چی هغوی به ځنګه وي
. هر کله چی وخپل کور ته ولاړم
.پلار می سخت خفه او خواشینی ناست و
ویل یی بچی خدای دی وکړی چی په حرام کاښی دی خپه
هم نه وی ایښی ځکه چی ستا پلار تاته ټول عمر حلاله
. راوړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلار ته می وویل :لالا زه نو اوس افغانستان لوړ رتبه
. چارواکی کیږم
M او خه روب او دبدبه به ولرم
. دپلار غم می کم نشو
.ما ورته وویل:لالا ولی دومره خفه یی
ویل یی بچی جنرال قدوس په حق ورسید زما کلک
. ملګری وو کوم ظالم هغه وژلی دی
ما ورته وویل :لالا ولی جنرال قدوس سره څه تا پیژندل
ویل یی:لکه ورور داسی می وو -
.یو ځل موږ دغزنی په شاړه دښته کی روان وو
.خبر نه وو کومو ظالمانو راته دبوشکو بمونه ایښی وو
.موږ چی هر کله ورورسیدو
دجنرال قدوس مو مخی ته راغی ټولی موټری یی ودرولی
. ویل یی چی زما ورور په دی لاره تیریده
.په بمونو وربرابر شو والوت
تاسی پام کوی چی لاړ نشی ریشتیا هم چی په دی لاره
بمونه وو موږ ماین پاکانو خپل ماین پالونه راواخیستل
ټول ځایونه مو وکتل دجنرال قدوس دپښی نه دری لویشتی
. هاخوا یو بم وو

(c) ketabton.com: The Digital Library

.خو خدای ساتلی وو
.همداسی پدی سرک مو پوره 25ماینونه شنډ کړل
. ما دجنرال قدوس نه مننه وکړله
او نمبر می ورڅخه واخیست وروسته جنرال قدوس زموږ
. دماین پاکانو ساحی ته راولیګل شو
تر څو زموږ ساتنه وکړی ځکه هر ساعت کی به طالبانو
.پر موږ حمله کوله
خو کله چی جنرال قدوس راغی بیانو بیخی طالبان ورک
. شول
او یوځل زه دماین پاکی موسسی کی د غدار په توګه
. ونیولم شوم څارنوالۍ ته معرفی شوم
.خو جنرال قدوس راته دتیاری ټیکټ وکړ
.اوسیده یی قندهار ته ولیګلم تر څو هلته پنا واخلم
زه خپل ضمیر ته سخت خجالت سوم ځکه جنرال قدوس
.ما وژلی و
.خو دپلار په خبرو می دشپی سوچ وکړ
ریشتیا هم چی ما دیو څو روپو او دیو مقام لپاره داسی خه
انسان ووژلو چی څو ځلی خدای تعالی زما دپلار دمرګ
.په وخت کی لکه دفرښتی رالیګلی وو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټوله شپه مې وژړل خپل وحشت ته مې وژړل خپل هغه وخت پسې مې وژړل چې پوهنتون کې مې اسما سره دخپلې خوشحالۍ په وخت کې تیر کړي وو.
. ماما مې له یاده وتې په سبا مې ماما رایاد شو
ارکې ته مې زنګ وواهه ارکې زما ماما چیرې دي تاخو . ویل هغه هم درته پیداکوم
ویل یې هغه ایساې سره وو ترینه راخلاص کړې مې دي . زما په ولکه کې دي هر وخت چې ته غواړې
درته به یې وسپارم.
. ما ورسره ومنله په سبا خپاې دندې ته ولاړم
یوزدې زرې موټر یې راکړ نور عادي موټرې وې یو لوې تالار وو کابل کې ډیر خلک ؟پکې ناست وو؟
پدې کې یوه چوکۍ زما په نوم وه تیاره خپلې چوکۍ کې کیناستم خو ځان راته غټ غدار ښکاریده.
. په سبا دخپلو موټرو اوروب داب سره خپل کور ته ولاړم
مور اوپلار مې ځان سره واخیستل روان شو پاکستان ته مور او پلار ته مې خالي دچکر وویل :خو بوتلل مې هلته دیو څه لیدلو لپاره تر تورخمه راسره خپلې موټرې راغلې
.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نور نو هاخوا دوی ته اجازه نه وه.
نور هاخوا هم راته موټر ولاړ وو هغی کی ولاړو ارکی ته می ویلی وو موټر یی رارسولی وو.
پدی موټر کی می پلار دارکی غټ چمن ته بوته ارکی زما ماما یو باغ کی ساته خکلی ځای وو دپخوا نه داورته ماویلی وو زما ماما ته هر څه ورسیدل خوشحاله وو.
خو پلار چی می وروست دارکی نفرو ته می وویل چی ماما می راولی .
ماما یی زما دپلار شوکۍ مخامخ کینوه .
پلار چی می وکوت سترګی یی کړیغی راووتی .
ویل یی چی دا سنګه داله کومه شو.
ورته ومی ویل :لالا خپل غچ ورنه واخله .
پلار می راپاسید یوه سپیړه یی ووهلم نور یی راباندی شروع کړه .
په درندو لاسونو یی ددرد نه کلک کلک په ملا ووهلم داسی نو بغیر دپلار نه چا راباندی ګوزار نشو کولای .
پلار می دیواله ته تکیه ووهله ویل یی چی .
خیر محمد که هر رقم انسان وو خو زما اوخی ایا دا تا تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

. اوسه بندی کړی وو
ما ورته قسم وخوړ چی لالا ما خو دی راخوشی کړ خو پلار می نه باوروله ارکی ورته وویل:کاکا مانه صبر وکه چی خیر محمد ماما په حوش راشط هر څه به درته خپله . ووایی
هغه خو په حوش نه راته اوبه پر مخورته واچولی مور . می ژړل
خو هر کله چی می ماما ورته وویل چی ارکی خو زه . دهغه ظالمانو نه وژغورلم
. ارکی خه انسان دی
ما خودایو څو ورځی دلته لکه دمیلمنو تیری کړی خه دی . چی تاسی راغلئ
. زه داوخت پوه شوم
چی دپلار په خبرو کی چی څومره کرکه ښکاریدله پلار . می په ریشتیا دومره دماما نه کرکه نه کوله
ما نو اول نه ارکی پوه کړی وو چی ارکی ته به داسی وکی که خبره جوړه شوه نو زما او داسما قیصه به .راواخلی
ارکی نو هوښیار وو ویی ویل:تاسی چی بیرته پخلا شوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو نه مو ده خوخه چی دعادل او اسما واده هم سره وشی.
. ټولو وویل خوخه مو ده نیټه یی راتلونکی هفته کیښوده
زما پلار مور او ماما می روان شو تر څوپنډی ته دسمیع
کره ولاړ شو.
. زه دډیر وخت وروسته دسمیع دلیدلو په ارمان وم
. خو امکان لری خدای به خوخه نه وه
پلار می دارکی قرارګاه کی دجنرال قدوس عکس ولید
. چی سره کرښه ورنه تاوه شوی وه
پدی نو یو امیره انسان هم پوهیږی چی دچا عکس نه په
داسی ځای کی سره کرښه تاوه شوی وی نو هغه وژلی هم
همدوی دی.
. پلار می پوه شو
ماته یی ویل دا څوک وو عادله صفا راته ووایه داڅوک
وو.
ما ورته ټوله قیصه صفا صفا تیره کړه.
دپلار می راځخه کرکه وشوله.
زه یی همدلته پریښودم او ولاړ افغانستان ته.
ماته پخپلو جامو کی خجالتی ځای نه راکاوه.
زړه می تنګ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بس لاړم بیرته خپلی پخوانۍ کمپنۍ ته هلته می کار شروع
.کړ
.دیو څه وخت وروسته ارکی زنګ راووهه
هلکه سهاره څه شوی ولی چی ورک شوی او هماغسی
. ورک یی کله ناکله خو رازه کنه یاره
زما چیپه خوله څه راغلل ارکی ته می وویل :ارکی زما
.دمرګ تکل وکړ
.زه خپل کار کی بوخت وم
. نیم ساعت دزنګ نه وروسته ارکی راورسید
.او دکارخانی نه یی په زور وباسلم
. بویی تلم خپلی قرارګاه ته سخت یی ووهلم
.اخر بی هوشه سوی وم
سترګی چی می روڼی سوی یو کس راته په مخ ډک سطل
.داوبو اړولی وو
.مخامخ راته ارکی په میز ناست وو
. سګرټ یی لګولی وو او ماته یی کتل
دیو څه ځنډ نه وروسته یی وویل :خا سهاره وس ووایه
. ولی دی ماته تیزی خبری وکړی
تاته ددی پته نه وه چی زه قومندان قدوس وژلی سم نو تا

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم وژلی سم.
ما ورته وویل:ارکی زما پلار او مور رانه خفه لاړل
هغوی ستا قرارګاه کی دجنرال قدوس عکس ولید .
او زما په حقیقت خبر شول .
ارکی وویل :ډیر شه نو دا خبره ده زه به تا بیرته خپل پلار
سره هم یو ځای کړم .
ماهم نور توبه کړی سهار یارو ځکه غواړم ستا پشان خو
خلکو سره وګرځم.
ډیر ژر به ستا ټول مشکلات حل شی .
خپلو کسانو ته یی امر وکړ سهار دواخانی ته بوزی دروان
شناسی ډاکټرانو سره یی کینوی .
همداسی وشول .
زه دپخور لوی روغتون خیرالناس کی بستر شوم .
دوه ورځی می لا تیری کړی نه وی چی داسما زنګ
راغی مانه اسما بیخی هیره شوی وه.
موبایل می په رپانده لاسونو تر غوږونو پورته کړ.
هغی خوانه په ښکلی نری غږ دسلام اواز راغی .
ماورته وویل :وع سلام څنګه یی اسما .
ویل ستانه بغیر ژوند می بیخی تنور سوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

. سهاره دخدتی لپاره یوځل خو راشه کنه
.او ریشتیا زما پلار ما خپل وراره ته ورکوي
. ما ځان سره جتکه وخوړه
ما ورته وویل:اسما پلار خو دی له ما سره وعده وکړه کنه
.
اسما ویل :ګوره سهاره زما پلار ویل چی داسی بدعمله ته
. زه هیڅکله هم لور نه ورکوم
ماته سخته غوصه راغله دسترګو نه می اوښکی وڅڅیدی
.
.دیوی شیبی لپاره می موبایل بند کړ
.ددردونو په سمندر کی نور نو اموخته شوی وم
داروا پوهنی ډاکتر راغی خلک ډیر خوشحاله شول ځکه
.چی دا ډاکتر به جمعه کی یوه ورځ دلته راته
خو نن په عادی ورځ راغی ارکی ورته پیسی ورکړی وی
. ځکه راغی
ماسره په بیډ کی ګیناست راته ویل یی سهاره څه مشکلات
.دی دی ټول راتهووایه تر څو زړه دی خالی شي
.ما وویل :ډاکتر صاحب خکلی ژوند می روان کړی و
.ننګرهار کی پوهنتون کی وم

(c) ketabton.com: The Digital Library

.يوه مينه مى لرله

Mموږ خپلو کی سره ډير خوشحاله وو

. هره ورځ به چکر ته وتلو

. رنګارنګ ميوی به مو خوړلی

.دښکلو منظرو ننداری به مو کولی

.خدای خه مال حال راکړی وو

.زموږژوند ډير خوندور وو

خو يوه ورځ ماته اسما وويل چی زما دپلار نوم خير محمد

.دی خير محمد زما دپلار اوښی او دشمن يی وو

زه په خير محمد پسی ګرځيدم تر څو وينی يی وڅښم خو

دهغی لور زما مينه وختله ما فکر کاوه چی اسما خپل پلار

. راليګلی تر څو ما سره ملګرتيا واچوی

. ځکه مى اسما پريښوده

او راغلم پاکستان ته دلته مى دنفرت ژوند شروع کړل ما

. غوښتل تر څو افغانستان کی روب داب ولرم

او خپل ماما نه هم غچ واخلم

. ماما مى راته ارکی په لاس راکړ

. خو پلار مى ورته هيڅ ونه ويل ځکه چی اوښی يی وو

زه فکر کی شوم چی ولی مى داهر څه وکړل ددی نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخکی راباندی ارکی جنرال قدوس وژلی وو۔
پلار چی می خبر شو.
. نو خفه شو رانه وس هم خفه دی
وس راته اسما زنګ راوهلی وو ویل یی چی ماما دی ما
. بل چاته ورکوی
. ته ووایه ډاکټر صیب زه څه وکړم
. ډاکټر وویل :ته دهغی جینی سره وس مینه لری که کرکه
. ماورته وویل{:مینه لرم
. زما کرکه زما دپلار په وجهی وه
. بیایی وویل :داسما خبره به ارکی ته وکړی
. هغه به دی ماما برابر کړی
ما وویل ;خا
بیایی وویل :نور ته هیڅ مشکل نلری ارکی درته ویلی چی
دمور اوپلار پخلا کول دی په ما.
. نور نو ته څه مشکل لری
ما ورته وویل:زه سنګه خپل ځان وبښم چی ما جنرال
قدوس وژلی.
. ویل یی:توبه وباسه خدای به هر څه سم کړی
. ما ورته وویل ډاکټر صاحب زه خو به توبه وباسم

(c) ketabton.com: The Digital Library

. خو دادومره خلک به څه کوي
. داچی هره ورځ مړی کوی
ویل یی :ته لومړی خپل ځان سم کړه بیا نورو ته فکر
. وکړه
. ډاکټر ولاړ
.زه هم دهسپتال څخه رخصت شوم
. ارکی ته می دماما خبره کړی وه
. ماما راسره ومنله مااو اسما پاکستان کی واده وکړ
پیسی راسره وی یو کور می اسلام اباد کی واخیست لږ
.وخت می هلته تیر کړ
. زما کور یوه غټه ګومبده لرله
. داسی کوروو چی په ټول اسلام اباد کی چا نه لرلو
. اسما ته می خدمتګارانی ونیولی
خو ماسره دمور اوپلار غم وو لاړم تر څو ارکی ته ووایم
.
. چی مور اوپلار به می سنګه شی
ویل یی:طالبان انشالله پدی ورځو کی افغانستان نیسی ته
. رازه چی ورشو
. هم به دی ته خپل پلار پخلا کړی او هم مور

(c) ketabton.com: The Digital Library

. ما داسما سره خدای پامانی وکړله او ولاړم

دموټر ټیرونو شګی وکړی
جامی یی راخیرنی کړی زه په منډه ولاړم کور ته تر څو
. خپلی جامی پریمنځم جامی می پاکی کړلی
. دکور نه راووتم

(c) ketabton.com: The Digital Library

. يوه ښځه چې ځوانه وه دسرک پر سر ولاړه وه
. ماته یې لاس خوځاوه ما شاوخوا وکتل
. صرف کاته یې غږ کاوه
ورغلم ویل یې سلام وروره تاسې نوید یاست ما ورته
وویل هو خورکۍ ولې ؟
ویل یې:وروره پیخور ته راغلی پلار مې راته ستا نوم
. وخودو چې نوید دوی کره لاړه شه
. نو ځکه زه راغلم
ما ورته بغیر دکوم تکلیفه وویل:رازه خورې دننه
. کیناستله دمه یې ولګوله
زما ښخه په عمر کې مشره وه ولی چې زه د17کالو وم
. خو هغه ډیره مشره معلومیده
. مور مې کوټې ته راننوته ویل یې بچې
داڅوک ده ور معذفی مې کړه -
ویل یې خه دی وکړ چې رادی وسته ما ورته وویل مورې
. چاې ورته تیار کړه
پوښتنه مې ورنه وکړه ترور تاسې ونه ویل چې چیرته
. روان یاست
او دپلار نوم مو څه دی ویل یې وروره داسلام اباد نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

. راغلی یم پلار می خیر محمد نومیږی
. خیر محمد می ونه پیژنده
.خو سر می ورته وخوزاوه چی هو پیژنم یی
ویل یی :خاوند می نن نه اته میاشتی مخکی له کور څخه وتلی ویلی یی و-
. راته چی افغانستان ته زم وسه پوری ندی راغلی
غواړم افغانستان ته پسی لاړه شم تر څو معلومات یی وکړم .
ما ورته وویل تروری نو بل څوک خپل دی نه وو
. ویل یی شته خو باید چی زه افغانستان ته پسی لاړه شم
. ځکه چی امکان لری هملته پاته سم
. زه هم پدی ورځو کی افغانستان ته تلم
. نو ځکه می وغوښتل تر څو دا ښځه به هم سره بوزم
. مشکل به یی حل شي
که څه هم ما خیرمحمد نه پیژانده خو بی ننګی راته خوند نه راکاوه .
. ښځی ته می وویل انشالله سبا به افغانستان ته ځو
ویل یی هلته خو وس طالبان هم دی چاته خوبه څه وایی نه

.

(c) ketabton.com: The Digital Library

. ما ورته وویل :نه ولی چاته څه ووایی
. ډیره ارامی یی وطن کی راوستی ده
. اسلامی نظام دی هلته
. په سبا نو زه روان شوم
. ترخو انجلۍ افغانستان ته بوزم
. زما هم لګ څه کار بندوو
اسما می ننګرهار کی پریښوده اسما روانه شوله ننګرهار
. کی ترخو خپل د خسر ګنی کور پیدا کړی
.پخوانی کور خو یی کتلی وو
.هملته پسی ورغله خو هلته بله کډه چا راوړی وه
ماته دهغی ځای خلکو وویل :چی دی ځای نه هغه خلک
. وخته تللی داکور یی پر موږ خرص کړی
.خو دوی ته پته نه وه چی سهار دوی چیرته تللی
په ټکنده غرمی دسور نور لاندی ناسته وم خوله راباندی
. راماته وه
. یوی ښځی ولیدم
ننګرهار خار کی اکثر کورونو خلک داسی دی چی
. دمیلمه پالنی هیڅ فکر نلری
. ټول نه یادوم خو دښار خلک یی اکثر دمیلمه غم کی ندی

(c) ketabton.com: The Digital Library

. یو ښځی راته صرف لګی اوبه راکړی ومی څښلی
. دسهار دوی کلی شینواری و
هلته پسی ورغلم سهار چا نه پیژندو خو یو څو پښتنو نه
وروسته به می یی دپلار نوم یاداوه خلکو ته خو یو کی
وپیژندلو ویل یی:ته لاړه شه شیر کاکا ته هغه یی دکلی دی
هغه به درته ټول معلومات درکړی مازیګر خپور وو شپه
.می هم دزمري کاکا کره راغله
زمری کاکا راته وویل می دهغوی کلی یاغی بند دی ته به
. سبا ولاړه شی هلته بهیی پښتنه وکړی
زما دسهار سره وخت ډیر نه وو تیر شوی ځکه می
. ورڅخه د کلی پښتنه نه وه کړی
. دهمدی ورځی په سبا ولاړم
. دیاغی بند کلی ته
. هلته نو ټولو پیژانده زه یو ورور خپل کور ته وروبللم
. داکلی وو نو ځکه خلک دمیلمه پالنی په ارزښت پوهیدل
هغی راته وویل:ګوره لوری د سهار وس دژوند او مرګ
. پته نه لګی
زما سر وچورخیده ویل یی:لوری ته به داسی وکړی لاړه
. به شی کابل ته دهغی پلار په سپینه مانۍ کی ژوند کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

هلته ته دسهار پلار پیدا کوای سی.
. بیرته لګه سه خوشحاله سوم
ددی ماما نه می زیاته مننه وکړه ښځو یی راته دپاتی کیدو
. ټینګ ست وکړ
. خو زه روانه وم تر څو سهار پیدا کړم
. دکابل په موټر کی کښیناستم
. یو څه پیسی راسره وی
. دکابل په لاره په ژوند کی دلومړی ځل لپاره تللم
په لاره کی ددرونټی پارک جوانان مو وکوت خکلی پارک
. وو
دسهار هاغه وختونه راپه زړه شول چی دلته به یی
. راوستلم
څومره دمینی نه ډک ژوند مو وو.
نوی نوی دطالبانو حکومت راغلی وو.
. ټول به یی دسی پنځه شپږ ورځی کیدلی
. ددرونټی تونل می دډیر وخت بعد وکوت
همداسی په لاره کی دلغمان اوبه چی ورک شوی دی
. دسرک دغاړی نه په بل طرف تللی
. دلغمان منظری ډیری خوندوری وی

(c) ketabton.com: The Digital Library

. اوبه په خپل شدید قوت دننګرهار خواته روانی وی
.دډیر روڼ والی نه ابی معلومیدلی
Mداسی معلومیدلی لکه د پیغلی مړوند
. یو یوڅاڅکی کی یی دوطن مینه پرته وه
Mدخپلولۍ یوه ریشته پکی پرته وه
. ما دځانه سره تکل وکړ
. چی نور به هیڅکله هم پاکستان ته لاړه نشم
. ډخو خدای دی راته یو ځل سهار پیدا کړی
موټر مخکی تللو یو رقم غرونه راغلل چی یو بل ته یی
.غاړی ورکړی وی
. لمر پکی ورک شو
ډیر خوف ناک منظر جوړ شو خو یو څه وخت وروسته
. سروبی ته راورسیدو
سروبی کی نو کابان دسیند نه راوړل کیدل او خلکو به
. خوړل
. زه دسهار سره مخکی راغلی وم سروبی ته
.کبان مو خوړلی وو
.هغه خوند می اوس هم لا په خوله کی وو
. ځکه می لګ څه تروه کبان رانیول

(c) ketabton.com: The Digital Library

په سر یی ورته لیمو ایښی وو او تر کابله پوری پری مشغوله وم ـ
. بیل خوند یی وکړ
. دسهار مینه یی راته راتازه کړه
. دماهیپر لاره نو بیا بیله خطری لاره وه
.لږه دمار پلونه داسی تاوه شوی وه
. هردور سره به پاس ختلو
. خو کله چی یی اخر ته وختلم
. سخته وبیریدلم
. دویری ځای وو
خلک دکوهی نه ویریږی چی ورونه لویږی حال داچی کوهمی وړوکی سوری لری خو دا ټول سوری سوری وو او فکر نه کوم چی کوم کوهی دی دومره ژوروالی ولری لکه دا۔
ما د لواړګی دغرونو ژوروالی هم کتلی خو هغه چیرته دیته رسیدلای شی .
.کابل ته چی ورسیدم شپه وه هری خواته تیاره خپره وه
خو چی کابل کی می دمیلمه عزت ولید په ننګرهار می شکر وباسه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

. راسه می موټروان سپينی ماڼی خواته روان کړ
په لږوخت کی يی هلته دسپينی ماڼۍ مخی ته ودرولم
زه ميلمنه وم نو ځکه دميلمنو پشان ورغلم تر څو ما
. پريږدی اوورشم ماڼۍ ته
خو هههه
.زه يی پرينښودم څنګ هوټل کی می اطاق کرايه کړ
. ټوله شپه می همدی هوټل کی تيره کړه
. په سبا يی زه کيناستم تر څو دسهار پلار راووزی
. نو زه به ورته خپل ځان معرفی کړم
. خو پدی ټوله ورځ راونه وتی
. په سبا يی بيا کيناستم
يو ساتونکی می خواته راغی ويل يی خوری تاسی دلته
. څه کوۍ
. دا ځای ستا دناستی ندی
ما ورته وويل:وروره ورشه او دسهار پلار ته ووايه چی
دسهار ميرمن اسما راغلی ـ
ويل يی سمه ده خو تاسی غاړی ته شی موټر مو ونه وهی
.
ما ورته وويل ته ورشه ورته ووايه زه به غاړی ته شم

(c) ketabton.com: The Digital Library

. هغه لاړ دسهار پلار پسی
دسهار پلار چی داسما نوم واورید سخت خوشحاله سو.
دخوشحالی نه یی ټوپونه ووهل خپلی میرمنېته یی خبر
. وکړ
. بیرون په منډو منډو لکه لیوانیان راغلل
. خو چی ویی کتل اسما موټر وهلی وه

اسما ساتونکو موټر ته واچوله دسهار پلار دزړه دخلاصه
. یوه چغه ووهله
. دخوشحالۍ په وخت کی غم ډیر درد لری
M خپل موټر یی راواخیست
. داسما پسی روغتون ته ولاړه.
اسما سخت حالت کی وه ډاکټرانو ورته وویل دابه دلته کم
. از کم شل ورځی تیروی تاسی ولاړ شی
ډاکټران هم شاهی ډاکټران وو.
دسهار پلار هغه کس ته زنګ وواهه چی دایی دلته
راوستی وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورته ویی ویل:چی صرف سهار ته همدومره ووایه چی
اسما په هسپتال کی ده
. دمرګ په حالت کی ده
. په همدی ورځ مازیګر ارکی روغتون ته راورسید
. داسما پښتنه یی وکړله
دخدای تعالی فضل وو.
. اسما په پنځو ورځو کی خه شوه
. سپینی ماڼۍ ته راوړل شوه
ارکی ته دسهار پلار وویل:ارکی وس نو ووایه چی سهار
. چیری دی ویل یی
لالا تاسی بی غمه اوسی ارکی روغ دی او ډیر ژر به مو
. خواته راشی
. ارکی ولاړ
زه خوشحاله وم که سهار وو یانه دسهار مور اوپلار خو
راسره وو.
m دلته انتظار هم خه تیریده
. ساعت می دسهار دمور اوپلار سره تیر وو
واقعا چی زما دمور اوپلار نه خه وو
. دسهار درک پوره یوه میاشت نور هم ونه لګیده

(c) ketabton.com: The Digital Library

بس ما مور او پلار به سرک ته خپلی سترگی هره ورځ
نیولی وی .
تر څو سهار راشی .
یوه ورځ یی ماته پلار قیصه وکړله چی ارکی راغی زه
یی دخپل کور نه اوچت کړم .
او دلته یی شاهی ماڼی ته راوستم هغه وخت جمهوریت وو
.
خو اوس هم دسهار هیڅ پته نه لگی .
ماته یی صرف دومره ویلی وو چی داهر څه ماته ارکی
ویلی چی تاسی سپینه ماڼۍ کی پاتی شی.
خو یوه ورځ می دسهار غږ راډیو نه واورید خپله زړه
خپرونه یی چلوله .
ما فکر وکړ .
چی سهار دلته دی نو بیا ولی نه راځی .
خو خبره دانه وه سهار ددوه میاشتو ځنډ نه وروسته راغی
.
ارکی هم ورسره وو.
هغه یی بیټک کی کینولو .
ددروازی اول سر کی ودرید لاسونه یی خلاص کړل .

(c) ketabton.com: The Digital Library

. پلار او مور يې ورته ورغاړې وتل
زه وشرمیدم خو مور اوپلار وویل چې مه شرمیږه لورې
. رازه
M ما هم خه کلکه غاړه ورکړه
. دسهار دبدن بوی راته سم جنت وایسیده
. دهغې په یوه موسکا مې غوښتل ځان قربان کړم
. غوښتل مې دهغې خوله وخکم
.دومره راباندې ګران شوی وو
. چې دخغې لپاره مرګ ته هم تیاره وم
:ماته په کتو یې له سترګو اوښکې تویې شولې ویل یې
. ته مې بې وخته زړه کړې هسما ما وبخه
ما ورته وویل خدای دې وبخه خو ته اول مخکې دکیناستلو
. داراته ووایه چې ولې نه راتللې
. ویل یې:یو ځل به کینو هر څه به درته ووایم
. پلار یې هم خبره تایید کړه ما ورته مای راوړ
دچای سره مې ورته پسته بادام کشمش او چڼې هم راوړې
.
. قیصه یې شروع کړله
. اسما زه چې له تا څخه راووتم نو لاړم طالبانو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسلامی امارت دټول افغانستان دنیولو نقشه پوره شپږ
. میاشتی مخکی ایښی وه
خو افغانستان یی شپږ میاشتی وروسته ونیولو دمنګ ډیڅ
. ملګری مو په حق ورسیدل
زه خپله هم دوه ځلی په پخه لګیدلی یم خو خدای به راته
. مرګ نه وو لیکلی
. دامریکایانو تیاری به راتللی
او هره ورځ به می مخی ته شپیته او اویا ملګری مړه
پراته وو.
. خو دیو څه وخت وروسته حالات بدل شول
. طالبان قوی شول
او په کلار کلار یی ټول افغانستان ونیوی.
دارکی سره هره ورځ مخامخ کیدم خو هر کله چی
دافغانستان

. دسقوت خبری رانږدی شوی نو بیایی راته وویل چی
. سهاره ستا مور اوپلار په سپینه ماښی کی دی
موږ ننګرهار کی وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

. جنګ مو کاوه

.په ننګرهار کی ټول تشکیل ما او ارکی جوړ کړی وو

. خو سقوط ډیر په اسانه وشو

مشرانو راته وویل :چی والی ته زنګ ووهۍ هغه به پخپله

. درته ولایت تسلیم کړی

. هماغسی وهم شول

ننګرهار چی ونیول سو موږ کابل ته ولاړو په سبا خه په

خکاره په کابل زای پارک کی ګرځیدو خه عسکر وو خو

.چا څه نشو ویلی

.افغانستان ټول سقوط شو

. خو ما او ارکی ته افغانستان کی سخت خطر وو

ځکه موږ ته هره شیبه پیغامونه راتلل چی وژنو مو نو

. ځکه موږ دبرطا په لومړی ورځ لاړو

ترکیی ته خو اوس چی یوه میاشت مخکی چی زه خبر

. شوم

. چی اسما مریضه ده نو ارکی می راوستوه

. هغی ستاسی احوال واخیست او بیرته ماته راغی

خو اوس دمشرانو امر وو می موږ بیرته افغانستان ته

.راشو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه مې مور ته مسیجونه اوپیغامونه همدې مشرانو کړې

. ول ترڅو مور ولاړ شو

.ځکه ارکې دایساې سړې وو

او که دارکې په حقیقت هر څوک خبر شوې واې نو بیایې

.ژوندې نه پریخود

. حتې که زه هم خبر شوې واې

. ما به ارکې ژوندې نه واې پریخې

پاې

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

سیدادریس سادات
که مو خوخه شوی وی دپاڼی په نوم پیج کی راته ووایی
مننه

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**